# په افغانستان کې د فقر د بشري حقونو بعدونه



**د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمیشنر دفتر**

کابل، مارچ ۲۰۱۰

## منته

د بشري حقونو د عالي کمیشنر دفتر له خپلو داخلي او بهرنیو د بشري حقونو ساحوي همکارانو څخه په دې پروژه کې د دوي له ژمنې او هڅو په خاطر مننه کوي. د دوي هڅې وې چې د دې رپورټ لپاره یې معلومات برابرکړي او رپورټ ته یې یو لوری ورکړی، هغو اوازونو ته یې زور ورکړي چې د فقر د ښکاره وړاقعیتونو او شمیرو شاته پراته دي. د "بشري حقونو او د فقر" له ټیم څخه په خاص ډول ډیره مننه چې د دې رپورټ او اړوندې څیړنې لپاره یې زیات زیار ګاللی دی. د بشري حقونو د عالي کمیشنر دفتر دغه راز له ډیر شمیر هغو خلکو څخه مننه کوي چې په مرکو کې یې ګډون کړی او خپلې نظریې او انګیرنې یې له موږ سره شریکې کړې چې له دې پرته به دغه راپور نه و رامنځ ته شوی.

**د مطالبو فهرست**

لنډیز ..................................................................................................... iii
بشري حقونه: د فقر په کمولو کې یو ارزښتناک عنصر............................................. v
لومړی: فقر په افغانستان کې................................................................................ 1
دویم: له ځواک څخه ناوړه استفاده ........................................................................ 4
فساد........................................................................................................... 7
دریم. د امنیت نشتوالی........................................................................................ 8
څلورم:  د سرچینو نا برابر ویش........................................................................... 11
پنځم: د انتخاب نشتوالی..................................................................................... 14
شپږم: تبعیض او شړنه (مستثنی کول).................................................................... 16
اووم: پایله.................................................................................................... 19
اتم: وړاندیزونه............................................................................................... 21
لومړی ضمیمه: میتودولوژي .............................................................................. 22
دوهمه ضمیمه: په پرمختیا کې بشري حقونه د یوې هر اړخیزه مسالي په څیر ................................ 23

## لنډيز

فقر په افغانستان کی ډیر عام شوی دی، فقر له نا برابری سره ډیر نږدې تړاو لري او ډیر ځله د گوښه کیدو او فقر له احساس سره ملگرې وي.[1] که له دغو عواملو سره شخړې هم یو ځای شي نو د فقر محوه کول په یوه لوي گواښ بدلیږي. په افغانستان کې همدغه حالت جاري دی. فقر او د هغې بی شمیره پایلو دمیلیونونو افغانانوژوند له گواښ مخ کړي دي. لکه په بل هر ځای کې، فقر دلته هم گڼ اړخیزه پدیده ده او د ډیرو لاملونو او سرچینو او پروسو څخه راپیدا کیږي. فقر په افغانستان کې نه تصادفي دی او نه داسي شي دی چې مخنیوي یې نه شي کیدای. فقر د زیات شمیر خلکو د بشري حقونو د نقض لامل هم دی او هم د هغه پایله ده چې په دې کې داسي نقضونه هم شاملیږي لکه له جرمونو څخه د معافیت ډیر عام دود او د بشري حقونو په برخه کې ډیره کمه پانگه اچونه او هغو ته لږه پاملرنه. دغه راپور فقر د بشري حقونو له نظره گوري او په عین حال کې دا مني چې ښایي ډیر گڼ لاملونه نور هم وي چې د یوه کس د فقر یا شتمنی سبب گرځي. راپور ټینگار کوي چې د فقر د کمولو نوښتونه باید د بشري حقونو له طرحو او معیارونو څخه استفاده وکړي څو له هغو کسانو سره مرستي وکړاي چې ډیر گوښه پاتی شوي او د دې توان نه لري چې د یوه با وقاره ژوندانه بنسټیزې اړتیاوې پوره کړي لکه خوړو، روغتیا، عدالت، سرپناه او تعلیم ته د لاس رسي حق. په افغانستان کې د فقر دایمي کمول په هغو هڅو پورې تړلي چې د ځواک په ناوړه ساختارونو کې بدلون راشي او نیستمن خلک په دې وتوانیږي چې په ازادانه توگه د معلوماتو په رڼا کې د انتخاب لپاره مختلف امکانات ولری او انتخاب وکړاي شی. د اهمیت خبره دا هم ده چې د پریکړو کولو پروسې باید شفافه او څرگندې وي څو افغانان په عامه موسساتو باندې باور پیدا کړي او په یوه خوندي چاپیریال کې ژوند وکړي.

د طالبانو د رژیم له ړنگیدو او دې منطقې ته د نړیوالې ټولنې بیا راتگ چې د ساړه جنگ له پای ته رسیدو څخه وروسته زیات شو، افغانانو ته دا تمه ورکړه چې ژوند به یې ښه شي او افغانستان به د اقتصادي او اجتماعي شاخصونو له لحاظه د نړۍ له ډیرو وروسته پاتې هیوادونو د ټیټې کچې څخه راو وځي. خو اته کاله وروسته له هغې چې د بن موافقې د افغانستان دنوی پیل ژمنه کړې وه، یو له دریو افغانانو څخه په مطلق فقر کې ژوند کوي او یو په دریمه برخه نوریې د فقر له حد څخه لږ پورته ژوند لري چې د پیښو په حالت کې ډیر زیانمیندونکي دي لکه وچکالي، سیلابونه، زلزلې یا نږدې روغتیایي مرکز کی چې درمل تمام شی.

د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي چې په ۲۰۰۸ کې تصویب شوه او په هیواد کې د فقر د کمولو یوه ستراتیژي ده، یو لړ داسي لاملونه په گوته کړې دي چې د فقر په کمولو کې مرسته کوي لکه "د ساختارونو کمښت، مارکیټونو ته محدود لاس رسي، ټولنیزه نا برابري، تاریخي او اوسنۍ جگړې او د تولید بیلا بیل محدودیتونه ."[2] یوې بلې څیړنې چې د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي ته یې معلومات ورکړې دي هم د فقر په تعینولو کې دا لاندې عوامل په گوته کړې دي: (i) د شتمنیو یو کمزوری بنیاد، (ii) غیر موثره موسسې: چې په کې نا ځواکه کوونکي اقتصادي چاپیریال ، کمزوري سیمه ییزه حکومتداري،د خدمتونو نه رسول او فساد؛ د ټولنیز تحفظ کمزوري پروگرامونه او اجتماعي نا برابری شامل دي او (iii) د شخړو، طبیعي ناورینونو، د قانون د حاکمیت کمزوري، د بیو زیاتیدونکی لوړوالی، ډیریدونکی نفوس، د خوراکي توکو ناخوندیتوب او د ژمي د سختو شرایطو په وړاندې زیانمنتوب او (iv) د معیشتونو تعدد .[3]

له ځواک څخه په مختلفو طریقو ناوړه گټه پورته کول په افغانستان کې د فقر د بنسټیزه لاملونه څخه دي. ډیر ځله شخصي گټي د عمومي اجنداء مسالی، که په قانون پالیسي یا د سرچینو په تخصیص پوري اړه ولري، تعینوي. دغه راپور استلال کوي چې حکومت ډیر ځله په دې نه دې توانیدلی چې بنیادي خدمتونه وړاندې کړي لکه د امنیت، خوړو، یا د سرپناه برابرول. د خلکو زیاته برخه اوس هم د فساد له امله خدمتونو ته محدود لاس رسي لري. په دې سربیره، زیات شمیر افغانان په دې باور دي چې نړیوال مرستندویه برخه وال تر هر څه د مخه لنډ مهاله هدفونو ته لیواله دي، تر دې چې د ځواک په جوړښتونو کې له چاپیره شویو ناوړه گواښونو سره مقابله وکړي. افغانان په دې هم ښه پوهیدلی دي چې داسي فرصتونه بې ځایه برباد شوي دي چې پایلې یې په لنډ مهال او په اوږده مهال کې محسوسیږي. دې شرایطو د افغان ټولنې په لویه برخه کې د دموکراتیکي پروسې د راتلونکې په اړه ناهیلي او زیاتیدونکي بدگوماني را پیدا کړې ده.

سربيره پر دي، کلتوري نورمونه په ځانګړې ډول د ښځو په اړه تبعيضي کړنو ته نور هم شدت ورکوي. ډير کم شمير افغانان، خصوصا غريب خلک په هغو پريکړو کې ګډون کوي يا په هغو خپله اغيزه ښندي چې د دوي د امنيت او هوساينې په اړه ډيرې مهمې پايلې لري. زياتې پريکړې په بهر کې او د داسې پاليسي جوړوونکو کړيو له خوا کيږي چې له افغانستان څخه بهر دي او زياتره د داسې لنډ مهاله هدفونو د لاس ته راوړولو لپاره نيول شوې وي چې په افغانانو کې د نيستنمو خلکو له ګټو او خونديتوب سره څه اړيکې نه لري. د بيا رغونې او ثبات راوستلو هڅې د دې لپاره نه کيږي چې هغو پرمختيايي اړتياوو ته ځواب ووايي چې د اړوندو ټولنو له خوا په ګوته شوې دي. سياسي، او نظامي او کله هم شخصي اجنډاو د عامو خلکو ګټې تر سيورې لاندې راوستي دي.

د وسله واله جګړو شدت او پراختيا په تيرو څو کلونو کې نا امني زياته کړې او غربت ته يې نوره هم وده ورکړې ده. نا امنه وضعې د پاليسيو په مذاکراتو او د تمويل په باب په پريکړو سيورى غوړولي او په دې ډول يې د اقتصادي او اجتماعي خونديتوب اهميت له پامه غورځولی چې د ثبات او عادلانه او پايښت لرونکی سولې لپاره ډير بنسټيز لاملونه دي. د نا امنه سيمو لپاره د پانګې بې تناسبه تخصيص، چې په نسبي ډول د با ثباته سيمو په تاوان تماميږي، په حکومت کې د ډيرى افغانانو او نړيوالو همکارانو د ناهيلۍ سبب ګرځيدلی دی.

فقر هم د تبعيض او ګوښه کولو لامل او هم يې پايله ده چې د افغانانو اکثريت ورسره مخ دي. خو ځينې نور لکه بې ځمکې کسان، کوچيان، معيوبين او ښځې له بې تناسبه او نا برابره تخصيص څخه متاثره شوي دي. په هيواد کې ډيرى افغانان اوس د ژوندي پاتې کيدو لپاره يوازې څو لارې چارې لري چې يا پيسې په پور اخلي  اويا  کډوالۍ ته مخه کوي.

راپور دې پايلې ته رسيږي چې د فقر د کمولو په موخه يو اغيزناک روش د دې غوښتنه کوي،چې فقر د يوې ځنډنۍ او ژورې مسالې په څير درک شي چې يوازې د عايداتو د لږوالی له کبله نه بلکه له بشري حقونو څخه د محروميت له کبله منځ ته راغلي دی. په بله وينا، دفقر د کمولو ستراتيژي بايد د فقر د پايلو د محوه کولو تر څنګه په هغو بنيادي لاملونو زور واچوي چې فقر منځ ته راوړي. دغه راپور د فقر مساله د بشري حقونو له بيلا بيلو زاويو څخه ګوري لکه دا چې څنګه د ځواک ناوړه جوړښتونه او تبعيضي عملونه فقير خلک له دې څخه منع کوي چې داسې فرصتونه تر لاسه کړي چې له دوي سره د فقر په کمولو کې مرسته کولای شي. دغه راز راپور دې ټکی ته هم اشاره کوي چې پريکړې څنګه کيږي چې د نا متناسبو تخصيصونو سبب ګرځي او نا امني په څه ډول د فقر په رامنځ ته کولو او پايداره کولو کې مرسته کوي.

## بشري حقونه: د فقر په کمولو کې يو ارزښتناک عنصر

فقر يوه څو اړخيزه پديده ده چې د افغانستان په شرايطو کې د ډيرو خلکو لپاره د ژوندي پاتې کيدو او هوسايني په اړه ډيرې مهمې پايلې لري. هغه ساختاري شرايط چې فقر په هغو کې رامنځ ته کيږي او پاينت مومي د بشري حقونو له نورمونو سره د توافق له کچې سره ډيرې ژورې اړيکې لري. د بشري حقونو نړيوال قانون فقر "د انسان د ژوند داسې حالت چې له سرچينو، وړتياوو، امکاناتو، امنيت او ځواک څخه محروميت يې د پيژندلو ځانګړنې وی، چې د ژوندانه د مناسب معيار او د مدني، کلتوري، اقتصادي، سياسي او اجتماعي حقونو څخه د برخمن کيدو لپاره ضروري ګڼل کيږي"، تعريفوی.* دغه تعريف په مختلفو پروسو کې د ګډون، زيانمنتوب او د انتخاب وړتيا رانغاړي چې د اړونده ټولنو او خلکو په ژوند باندې اغيزه کوي. دغه عناصر يو له بل سره تړلي دي او يو پر بل باندې متکي دي او له همدې امله يوه جامع روش ته اړتيا لري. دا په حقيقت کې د دې مانا لري چې که په واقعي ډول غواړو چې فقر تر کابو لاندې راولو نو دغه هڅې بايد له هغو څخه بيلې نه کړو چې په ځواک او ادارو کې د نا برابره جوړښتونو د له منځه وړلو لپاره کيږي. مهمه خبره دا ده چې هغه امکانات نور هم پراخه کړو، چې د فقيرو خلکو لپاره موجود دي او هغوي د اجتماعي- اقتصادي پروسو په طرح، تطبيق او ارزونه کې را شامل کړو. همدارنګه دا هم مهمه ده چې سرچينو يا منابعو ته په برابر ډول تخصيص ورکړل شي او د افغانانو انديښنې د نا امنۍ له امله له منځه يوړل شي.

فقر په افغانستان کې نه تصادفي منځ ته راځي او نه داسې يو شي دی چې حتمي پيښيدونکی دی، فقر دا منعکسوي چې ټولنه څنګه تنظيم شوې ده، پريکړې څنګه (د نړيوالې ټولنې په ګډون) کيږي او منابع په څه ډول تخصيص کيږي. په دې اړه دغه راپور په پام کې لري چې د فقر د کمولو پلانونه او د هغود عملي کولو پروسې بايد د يوه داسې روش په لرلو سره غوره کړای شي چې يو بل بشپړ کړي. په خاص ډول راپور دې ټکی ته نغوته کوي چې اقتصادي وده يا د انفرادي عايداتو د فعاليتونو لوړوالی به په يوازې ډول ونه شي کړای چې د فقر لوړه کچه راټيټه کړي. لکه څنګه چې په II ضميمه کې راغلي بيلا بيل اقدامات، نيستمنو خلکو ته د ځواک له ورکولو څخه نيولی د فقر د کمولو د ستراتيژي په طرح، تطبيق، څارنې او ارزونې کې د هغوي تر واقعي ګډون پورې په کې شامليږي چې د پريکړو کوونکي د يوه شفافه ميکانيزم له لارې حساب ورکونې ته راوبولي، د دې لپاره ضروري ده چې فقر کم کړاي شی او بالاخره هغه له منځه يوړل شي.

د فقر د کمولو پاليسي او ستراتيژي بايد د فقر بنسټيز لاملونه له منځه يوسي، او يوازې د هغې په نتيجو ټينګار و نه کړي لکه ناروغي او د خوړو کمښت. د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژي په بشپړ ډول هغه تړاونه منعکسوي چې د بشري حقونو او پرمختيا تر منځ شته، ځکه چې د ستراتيژۍ ډيری هدفونه په مدني او سياسي حقونو پورې اړه لري. دغه راپور د فقر د ډيرو، مغلقو او بنسټيزو لاملونو د تحليل لپاره د بشري حقونو يو چوکاټ په کار وړي. دغه چوکاټ د ځواک، د منابعو د تخصيص، انتخاب، امنيت او د محروميت په مسالو ټينګار کوي. د بشري حقونو هغه روش چې د فقر د مطالعې لپاره کارول کيږي، داسې يوه تګلاره باوري کوي چې په خلکو يې تکيه وي او د خلکو د ګروپونو او د شرايطو په منځ کې توپيرونه او دغه راز هغه منفي شرايط په ګوته کوي چې اشخاصو او ټولنو ته د دې فرصت نه ورکوی څو له فقر څخه راووځی او له بنسټيزو بشری حقونو څخه برخمن شی.

**لومړی: فقر په افغانستان کې**

**يو تاريخي پس منظر:** د تيرو دريو لسيزو وسله والی جګړې فقر نور هم شديد کړې دی او د هغو هڅو مخنوی يې کړی دی چې فقر راکم کړي. وسله واله جګړه د ډيرو لاملونو څخه يو دی چې له امله يې له افغانانو څخه په دريو کې يو تن په مطلق فقر کې ژوند کوي او ۳۷ ٪ نور بې وزله خلک د فقر په مورګه ژوند تيروي.[4] د فقر ويرونکې حالت چې ډيری افغانان په هغه کې ژوند کوي او د دوي ژوند يې له محدوديتونو سره مخامخ کړی دی د تيرو دوو پيړيو د اجتماعي- اقتصادي او سياسي بدلونونو او له هغو سره د اړونده پرمختيايي ستونزو هنداره ده. په دې سيمه کې، افغانستان په تاريخي لحاظ په مقايسوي ډول د ډيرو لاملونو له مخې،د جغرافيايي، طبيعي دلايلو او د بشري سرچينو او د اقتصادي امکاناتو د کموالی له امله په ناوړه حالت کې پاتې شوی دی. د حاکمو سيستمونو ماهيت، زيات وخت د سيمه ييزو او بين المللي سياسی فشارونو تابع پاتې شوی- په عمومي ډول استبدادي او محافظه کار پاتې شوي او د افغانانو د ژوند د معيارونو په ښه کولو کې پاتې راغلي دي.

که څه هم فقر تر اويا يمې لسيزې پورې په دې نيمه وچه کې يوه عامه مساله وه، ډيری ګاونډي هيوادونه د اقصادي ودې په لحاظ له افغانستان څخه يو ګام وړاندې وو او د فقر کچه يې ټيټه وه. د مثال په ډول د اويايمې لسيزې د بشري پرمختيا شاخصونه تخمين کوي چې په افغانستان کې په هرو ۱۰۰۰۰۰ زيږون[5] پيښو کې د مرګ ۳۰۷۰ پيښې رامنځ ته شوې دي په داسې حال کې چې دغه شميره په ايران او پاکستان کې په ترتيب سره په سلو کی نږدې ۹۰ او ۷۵ کمې وي.

د افغانستان په تاريخ کې له ډيره پخوا راهيسې کمزوري مرکزي حکومتونه منځ ته راغلي چې نه يې شو کولای د هيواد په ټولو برخو کې خپل حاکميت ټينګ کړي. ډيره کمه پانګونه شوې ده چې د دې هيواد له هغو ګواښونو او فرصتونو سره مقابله وکړي چې په وچه پورې محدود حالت د ډيرو غريبو سيمو يا د طبيعي زيرمو (لکه د ځمکې او اوبه چې د کرنې لپاره اماده وي) له تنظيم سره تړلې وي. او د حمل او نقل په برخو کې د پانګې اچونې د مواصلاتب لارو نشتوالی خلک يو له بل څخه ليرې ساتلي وو او په دې ډول د ټولنو ترمنځ واټن او توپيرونه زيات شوی دی. په دې برسيره، د ظرفيت په لوړولو کې ډيره ليږه پانګونه شوې ده د دې په ګډون چې بشري سرچينې د اقتصادي او اجتماعي ګواښونو د هوارولو په لار کې په کار واچول شي مرکزي حکومتونو غير رسمی جوړښتونه په کار اچولي، لکه قبيلوي مشرتابه يا نور محلي ميکانيزمونه څو په ليرې پرتو سيمو کې اجتماعي نظم وساتي.

افغان مشرانو د تاريخ په اوږدو کې په بهرنيو مرستو تکيه کړې ده څو د عصري کولو او د اقتصادي پراختيا په لوری نوښتونه رامنځ ته شي، که څه هم دغه نوښتونه د عامو خلکو له خوا په بشپړ ډول نه دي منل شوي. د شلمې پيړی په سر کې امير عبد الرحمن خان او امير حبيب الله خان د خپلې سلطې لپاره په بهرنيومرستو تکيه کړې او په دې کې اقتصادي او اجتماعي پرمختګ هم شامل وو. وروسته، بيا د انګلستان حکومت پاچا نادرشاه دې ته وهڅاوه چې له روسانو سره هيڅ ډول رسمی همکاري و نه کړي او د دې په بدل کې ښې مالي مرستې تر لاسه کړي. نن ورځ هم دغه شرايط موجود دي، مرستندويه هيوادونه خپلې اجنډاوې لري (ځينې ځانګړې سيمې له ځانګړو هدفونو سره تر نظر لاندې نيسي او له خاصو قومي ډلو سره کار کوي او نور) چې په کابل کې د پريکړو په بروسه باندې اغيزه کوي.

د افغانستان جغرافيايي موقعيت او سيمه ييز سياست د دې مانا درلوده چې دا هيواد ډير ځله په جيو پوليټيک (جغرافيايي- سياسي) لحاظ په ګرو نيول شوی دی. افغانستان د ټولې ۱۹ او ۲۰ پيړی په لومړی سر کې د بريتانيا او روسيې په منځ کې د سياسي حايل په توګه پاتې شوی دی او دغه راز د ساړه جنګ په دوران کې يې هم دې ته ورته نقش درلود. د بهرنيو ځواکونو مداخله د افغانستان په تاريخ کې يوه عمومي مساله او داسې يو ميراث دی چې د دې هيواد د سياسي، اجتماعي او اقتصادي ودې مخه يې نيولې ده.

**د بن له تړون څخه وروسته د افغانانو هيلې:** د طالبانو د رژيم د نسکوريدو او د سړې جګړې د عملې سياستونو په پيروي له دې سيمې سره نوې ليوالتيا ډيری خلک په دې باوري کړل چې افغانستان په يوه نوې لار روان شوی دی. افغانانو او نورو خلکو ته د ۲۰۰۲ کال شرايط زړه راښکونکې او ډير د هيلو او فرصتونو ډک ښکاره شول. د بشري حقونو مسالې هم لږ تر لږه د جذياتي وينا په کچه د دې هيواد د راتلونکی په باب په مذاکراتو کې مرکزي

ځای نیولی و. افغانانو د دې غوښتنه درلوده چې د تیرو وختونو او په اوسني وخت کې پر بشري حقونو د تیریو مسالې دی په عدالت کې وڅیړل شي او په دې یې ټینګار کړی دی چې پرمختیایي پروګرامونه باید بشري حقونو ته د لومړیتوب حق ورکړي. د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون په ۲۰۰۴ کې د ټول هیواد په کچه سلا مشورې وکړې، څو پیدا کړي چې افغانان د بشري حقونو د نقض یو اوږد تاریخ څنګه ویني. دغو سلا مشورو وښودله چې ۶۹ ٪ خپل ځانونه د جنګي جرمونو او د بشري ضد جرمونو قربانیان ګڼل، ۴۰ ٪ وغوښتل چې پر بشري حقونو بدنام مجرمین باید تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي او ۹۰ ٪ د دې غوښتنه کوله چې په بشري حقونو تیری کوونکي باید له حکومتي پوستونو څخه لیری کړای شي.[6] د پرمختیایي پروګرامونو په برخه کې د ۲۰۰۶ کال د افغانستان تړون لیک ***(Afghanistan Compact)*** او له هغه وروسته په ۲۰۰۸ کې د افغانستان د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ سند بشري حقونه له حکومتداري او د قانون له حاکمیت سره یو ځای کړی دي چې د اجتماعي او اقتصادي پرمختیا په ګډون یې د بشري حقونو د ماهیت یو لنډ او تنګ درک وړاندې کړی دی.[7]

"په افغانستان کې د ننه یوه خوشبیني موجوده وه چې په راتلونکی کې به د نړیوال فعالیت په مرسته د جنګ سالارانو ځواک مات شي او د دې یقین به پیدا شي چې د پرمختیایي پروګرامونو ګټې به هغو کسانو ته ورسیږي چې تر ټولو زیات اړتیا ورته لري." د اقتصادي او اجتماعي حقونو مرکز، په افغانستان کې بشري حقونه او بیا رغونه، می ۲۰۰۲

څرنګه چې افغانستان د نړۍ د پام مرکزي ټکی ګرځیدلی و، د دې ښه فرصت پیدا شوی و چې د خولې خبرې په عملي، مشخصو او ښو تمویل شویو پلانونو بدل شي او د افغانانو په ژوند کې ښه والی راولي. خو ډیر ژر څرګنده شوه چې دغه جذباتي ژمنې د افغانستان لپاره په راتلونکو مالي پلانونو کې نه عملي کیږي. په ۲۰۰۲ کې په توکیو کې د کنفرانس برخه والو د پنځو کلونو لپاره د ۵,۱ بلیون ډالرو غیر نظامي مرستې ژمنه وکړه.[8] له دغې ژمنې څخه ځلورمه برخه یې تادیه شوې ده او نورې ټولې ژمنې په ځای پاتې شوې. که څه هم دقیقې او مشخصې شمیرې په مشکل سره پیدا کیږي، د حکومت په وینا ۴۶ بیلیونه ډالر له ۲۰۰۲ څخه تر اوسه وعده شوي او د ۲۰۰۹ تر نیمایي بورې له ۳۵ بلیونو څخه زیات یې رسیدلی دي.[9] له افغانستان سره د مرستو د همغږي کوونکې اداري (اکبر) یوې څیړنې په ۲۰۰۸ کې موندلې ده چې له ۲۰۰۱ راهیسې تمویلونکو هیوادونو ژمنې کړې دي چې د ملکي بیا رغونې او پرمختیا لپاره به ۲۵ بلیونه ډالر مرستې برابروي خو یوازې ۱۵ بلیونه ډالر مرستې رسیدلې دي او نږدې ۶ بلیونه یې بیرته تمویل کوونکو هیوادونو ته د مشاورینو د معاشونو او ګټو په څیر تللی دي.[10]

د مرستو ډیره برخه د سامانونو د تهیې په لورې سوق شوې ده. بین المللي برخه والو د بیا رغونې او د ثبات راوستلو لپاره پلانونه جوړول او مؤقت حکومت د بنسټیزو پلانونو په پروسه کې یوازې یو محدود نقش درلود او له حکومتي کړیو څخه بهر افغانان له پامه لویدلی وو.[11] د توکیو له کنفرانس څخه اووه کاله وورسته، افغانستان د نړۍ له بې وزلو هیوادونو څخه یو دی، چې د پرمختیایي شاخصونو اندازه یې د ۲۰۰۷ څخه لا شاته تللې ده.[12] له دریو افغانانو څخه یو یې په مطلق فقر او غریبۍ کې ژوند کوي (نږدې ۹ میلیونه خلک چې د ټول نفوس ۳۶ ٪ جوړوي). دغه کسان خپلې بنسټیزې اړتیاوې نه شي پوره کولای.[13] پر دې سربیره ۳۷ سلنه یې د فقر د حد څخه لږ څه پورته ژوند کوي.[14] په دې ډول له دریو افغانانو څخه دوه یې په فقر کې داسې بې وقاره ژوند تیروی چې هره ورځ یې د خپلو کورنیو لپاره د چاې او ډوډۍ په برابرولو کې تیره شي.

د ۲۰۰۹ کال له سیلابونو وروسته د دهدادي د ولسوالی، د بلخ ولایت د بشري حقونو یوه څارونکې ته وویل چې "دغو خلکو خپله ټوله شتمنې، کورونه، ځمکې، غلې دانې او د کور ټول سامانونه له لاسه ورکړې دی په داسې حال کې چې مرستندویه اداري هرې کورنۍ ته یوه بورۍ غنم او یوه کمپله ورکړې ده، څنګه کیدای شي چې په دې ډول دغه ستونزې له منځه یوسو؟ دغه خلک اوږدمهاله مرستې او ساتنې ته اړتیا لري."

د پرمختیا ټول شاخصونه څرګندوي چې د فقر د راټیټولو هڅو د ډیرو افغانانو په ورځنی ژوند باندې ډیر لږ اثر غورځولی دی: افغانستان د زیږون په مهال د مړینې په اندازه کې دویم ځای لري، په دې ډول دغه پیښې د مرګ یوازینی لوی لامل دی،[15] او په نړۍ کې د ماشومانو د مرګ د پیښو په اړه په دریمه لیکه کې دی، د افغانانو څخه ۲۳ ٪ د ښښاک اوبو ته لاس رسی لري، یوازې ۲۴ ٪ خلک چې عمر یې ۱۵ کلونو ته رسیږي یا تر دې تیروي لیک لوست کولای شي، په تخمیني ډول ۱۲,۶ په سلو کې ښځې لیک لوست کولای شي

او په کليوالی سيمو کې يوازې ۲۰ ٪ خلکو ليک لوست زده دی. د کوچيانو په منځ کې دغه شميره ۶ ٪ ته راټيټيږي.[16]

د افغانتسان پرمختيايي شاخصونه له ګاونډيو هيوادونو سره په پرتله د دغه هيواد فقر ځرګندوي. په ۲۰۰۹ کې د زيږون پر مهال د مړينو شميره په هرو ۱۰۰۰۰۰ کې ۱۶۰۰ ښودل شوې دغه رقم د پاکستان په پرتله ۵ برابره او د ازبکستان په پرتله پنځوس برابره زياته وه. د افغانانو ژوند په فقر او غريبۍ کې د دې ځرګندوي دی چې د دوي وړتيا د ناوړه پيښو په وړاندې د مقاومت په اړه ډير محدود دی. هره پيښه له سيلابونو، وچکالي[17] څخه تر هغو روغتيايي سهولتونو پورې چې درمل نلري، کولای شي د دوي په ژوند ناوړه اغيزه وکړي. دغه حالت د اجتماعي خونديتوب او د حکومت د ظرفيت په نشتوالی سره چې د خلکو بنسټيزو اړتياوو ته ځواب ووايي، خصوصا د بحرانونو په وخت کې، نور هم شديد کيږي.[18] په داسې حالاتو کې له دوديزو لارو چارو څخه کار اخيستل کيږي چې معمولا منفی اغيزې له ځانه سره لري لکه د فقر ډيره ټيټه درجه او يا د اجتماعي او کتلوري شبکو له لاسه ورکول وي.

په افغانستان کې بې وزله خلک د نړی تر ټولو ډير فقر دي او احصاييوي منځني حدونه هغه توپيرونه نه ځرګندوي چې د مثال په ډول د ښځو او نارينه وو يا د کوچيانو او ځايی خلکو په منځ کې موجود دی. دغه ډول توپيرونه ډير مهم دي ځو پوه شو چې "څوک بې وزله دی او ولې؟" دغه راز پوهه موږ ته د بشري حقونو لاملونه راپه ګوته کوي چې د فقر په ايجادولو او اوږدولو کې نقش لري. سره له دې چې په يوه نا امنه چاپيريال کې ډيری ستونزې موجودې وي، خو بايد ډيره هڅه وشي څو د قومي يا قبيلوی ډلو، عمر، ښاري سيمو، کليوالی سيمو، رسمی او غير رسمي ميشتيدنو، معيوبيت، جنس، کوچي يا ځايي اوسيدونکو په اساس جلا شوی معلومات خوندي وساتل شي. دغه راز، شاخصونه چې د فقر د کمولو هڅې يې د هغې په کمولو لري بايد وښيې چې چا د دې توانمندي پيدا کړې چې د پرمختيايي پروګرامونو له ګټو څخه برخمن شي، څوک هير شوی او د دې کار لاملونه کوم دي.

**دویم: له ځواک څخه ناوړه استفاده**

سیاسی حامیان، په فساد اخته چارواکي او په غیر دموکراتیک ډول انتخاب شوی د ځواک خاوندان د عامو خلکو د ګټو لپاره کار نه کوی، دوي د عامو خلکو له ګټو او اړتیاوو څخه خپلو شخصي ګټو ته لومړیتوب ورکوي.

محلي حکومتداري چې د مشرانو او ټولنو په منځ کې یې د احتساب کولو یوه لار برابروله له پامه لویدلي ده. په کابل کې ناست د پریکړو کوونکي د لیرې پرتو سیمو له واقعیتونو څخه نا خبره دي.

افغانان ډیر محدود داسې وسایل لري چې په ذریعه یې په حکومت او بین المللي ټولنه کې د پریکړو کوونکی دې ته وهڅوي چې د دوي اړتیاوې او هیلې په پام کې ونیسي او د هغوي د رناوي وکړي.

له افغان بدنامه ځواکمنانو سره د بین المللي ټولني مرستې، ناوړه، بې کفایته او په فساد اخته سیاسي ساختارونه نور هم حمایه کوي.

په افغانستان کې د فقر یو ډیر بنیادي لامل له ځواک څخه ناوړه استفاده کول دي. ډیر افغان ځواکمنان خپل نفوذ په کار اچوي چې عمومي اجنډا د خپلو شخصي او ذاتي ګټو په لوری وڅرخوي "شخصي او ذاتي ګټې" له افرادو څخه ها خوا لویو کورنیو، قبیلو، سیاسی یا نورو ډرونونو ته غځیږي. دغه اړیکې قانون، پالیسي، د حکومتي چارواکو عملونه یا د منابعو تخصیص تر اغیزې لاندې راولي. ځواکمنان به منظم ډول د داسې فرصتونو په لټه کې دي چې خپلې شخصي ګټې او شتمني زیاتې کړي، دغه هڅې زیاتره د نیستمنو خلکو په زیان تمامیږي چې ډیره کمه پاملرنه ورته کیږي. هغه طریقه چې ځواکمنان څنګه راپیدا کیږي او څنګه دوی له ځواک څخه ګټه پورته کوي، په تیره بیا په دې اړه چې څنګه له سرچینو څخه استفاده کوي په حقیقت کې اجتماعي ګوښیتوب راپیدا کوي، اجتماعي عدالت ته نا برابره لاس رسي دایمی کوي او هغه هڅې تر اغیزې لاندې راولي چې له بشري حقونو څخه د برخمن کیدو لپاره کیږي.

"له طالبانو وروسته د ولسمشر کرزی حکومت ډیر افغانان حیران کړی په دې چې ډیر شمیر قوماندانانو د شکبو غړي چې له طالبانو مخکې ځواک په لاس کې وو بیا مقرر کړی دي، د دې په ځای چې حکومت د پخوانیو زمین دارانو له شبکو، قومي مشرانو او یا له ښاري نخبه ګانو څخه مرسته وغواړي." د افغانستان د څیړني و ارزوني یونټ، ۲۰۰۹

"په وارو وارو تکراریږي چې له ځواک څخه بې برخې کیدل د فقر او له کړاوه د ډک ژوند بنسټیز لامل دی."[19] د نړیوال بانک دغه بیانیه، که څه هم په ټوله نړۍ کې د تطبیق وړ ده، خو په افغانستان کې د بې وزله خلکود حالت د بیان لپاره ډیره په ځای خبره ده. دغه خلک د ځواک په جوړښت کې هیڅ برخه نه لري. دا چې څوک پریکړه کوي څوک باید بینادي خدمتونو ته لاس رسي ولري، څوک باید له پرمختیایي پروګرامونو څخه ګټه واخلي، یا څوک د پریکړو په پروسې کې کولای شي برخه ولري، اکثرا هیڅ شفافیت نه لري. حتی د خلکو "رسمي" استازي، که په پارلمان کې دي او یا نور انتخابي ارګانونه په ندرت سره د خپلو موکلینو له نظریو او غوښتنو استازیتوب کوي. په هغو پریکړو کې د ګډون ښه کول او له هغو څخه ګوښه کیدل، چې د افغانانو په ژوند اغیزه کوي، نیستمن او بې وزله خلک له دې څخه منع کوي چې د معلوماتو په رڼا کې پریکړې وکړي او خپلو فرصتونو ته پراختیا ورکړي او دا په خپل وار هغه امکانات له دوي څخه اخلي چې د خپل فقر چاره وکړي.

د افغانستان د حکومت جوړښت یا تشکیلات د کابل په مرکز پورې اړه لري او د لیرې پرتو او نیستمنو سیمو سره یې اړیکې نشته. په تیرو وختونو کې، محلي قوی مشرتابه دغه فاصله ډکه کړې وه، چې د مرکزي حکومت او د نفوسو د اکثریت په منځ کې ایجاد شوې ده، په دودیز ډول، محلي مشرتابه تر یوې اندازې پورې دخپلې ټولنې په وړاندې مسووله وه، ځکه ټولنې تر یوې اندازې پورې د مشرتابه په ټاکلو کې لاس درلود، محلي مشرتابه د خپلې پوهې، د مشرتابه د مهارتونو وړتیاوو او له ټولنو سره د اړیکو پر بنیاد د راپورته کیدل. د مرکزي حکومت تګلار د محلي مشرتابه په وړاندې له مرستو سره تړلې وه چې د دې مشرتابه له هغه څخه تر لاسه کولې. د خلکو نظریې ځکه اوریدل کیدلې چې مرکزي حکومت د محلي مشرتابه ملاتړ ته اړتیا درلوده او نه یې غوښتل چې هغه له لاسه

ورکړي، که څه هم دغه مشرتابه بشپړتیا نه درلوده، خصوصا که موږ ګوښه کړای شوي ګروپونه او د افرادو اړتیاوې په پام کې وساتو، سره له دې هم د خپلو خلکو په وړاندې د کابل د مرکزي یا ملي حکومت په پرتله ډېره مسووله معلومیده. له همدې امله، د ټولنو غړو په محلي کچه د پریکړو په کولو کې د اوس مهال په پرتله لوی لاس درلود.

د تیرو ۳۰ کلونو په موده کې، د حکومتدارۍ محلي جوړښتونه بې سیکه شوي، انحصار شوي، سیاسي رنګ یې اخیستي او یا له پامه لویدلی دی. ډیری محلي مشران وژل شوي، ایسته شوي او یا یې له پخوانیو نقشونو څخه لاس اخیستی دي. نورو برخه والو په تدریجي ډول د دوي ځای نیولی ، چې په معمول ډول د ځواکمنانو له خوا حمایه کیږي، که څه دوی په حکومت کې دننه، یا له جنګ سالارانو، یاغیانو یا له جنایت کاره ډلو سره تړلې وی، د مثال په ډول، والیان د ولسمشر له خوا ټاکل کیږي، بې له دې چې ټولنې په دې پروسه کې شاملې وي. د دې نتیجه دا ده چې دوي د خپلو خلکو ډیر لږ ملاتړ لري، دغه حالت د پریکړه کوونکو او خلکو ترمنځ پروت واټن نور هم زیاتوی. نن ورځ د محلي مشرانو ځواک او صلاحیت تر ډیره بریده د نا انتخاب شوی والی په اختیار کې لویدلی دي.

په محلي کچه حکومتداري له محلي مشرتابه څخه، چې خپلو ټولنو ته مسوول و، داسې انفرادي اشخاصو ته انتقال شوه چې هغوي نظامي او مالي سرچینې په خپل کنټرول کې لري. په ساحو کې څیړنو ښوولې ده چې دخوراکي موادو مرستو ته لاس رسي زیاتره په دې پورې اړه لري چې د غذايي موادو د ویشونکو او دې توکو ته د اړو خلکو په منځ کې اړیکې څه ډول دي. په دې ډول هغو خلکو ته د لومړیتوب حق نه ورکول کیږي چې ترټولو زیات اړ دي. په افغانستان کې د خوړو ویشل زیاتره د هغو کسانو کار دی چې د ځواک خاوندان دي.[20] له هغو کسانو څخه چې مرکې ورسره شوې دي ډیری یې په دې باور وو چې د خوراکي توکو مرستو یوازې له ۱۵- ۲۰ په سلو کې ډیرو بې وزلو خلکو ته رسیږي. د مثال په توګه، د غور په ولایت، د بادګاه په کلی کې یوازې ۴۰ بوجې غنم نږدې ۶۰۰ کورنیو ته ویشل شوي دي. د دغو کورنیو لپاره دغه مقدار ډیر کم و، ځکه چې د دوي د فقر کچه ډیره لوړه وه. د دغو عمومي ګډوډیو سره سره، خلک په دې باور وو، چې رښتیا یا درواغ، چې خوراکي مواد یا غلا شوی او یا بلې خوا ته وړل شوي دي. دغه ډول خبرې د څیړنې په دوران کې بیا بیا اوریدل کیږي. د ارزګان ولایت په ترینکوټ کې ځینو پولیسانو د کومکي غذايي موادو یوه زیاته اندازه په زور اخیستې ده: "کله چې چارواکو له دې انکار کړی چې پولیسانو ته خوراکي مواد ورکړي، پولیسو هوايي فایرونه وکړل چې اوضاع تر کنټرول لاندې راولي." دغه خبره یوه محلي کس زموږ په مرکه کې څیړونکې ته کړې ده.[21] د غور ولایت په چارسده ولسوالی کې په ۲۰۰۹ کې ډیر شمیر رسمي چارواکي د غذايي موادو په غلا کې دخیل وو. که څه هم خلکو په څو څو وراه شکایتونه کړي، خو هیڅ اقدام په دی اړه نه دی شوي.[22]

> ″دلته په غور کې که له یوه محلي قوماندان یا رسمی چاروا‌کي سره تړلې وي بیا کولای شي چې له بشړپالنې له مرستو څخه برخمن شي، بې له دې چې ستا اقتصادي موقف په هکله پوښتنه وشی.″ د غور ولایت، رسمي چارواکي، ۲۰۰۹

د حساب ورکونې نشتوالی په ملي کچه هم یوه لویه مساله ده. سیاسي ځواک د شخصي اړیکو پر اساس د حمایي د سیستم په چوکاټ کې عملي کیږي. بیلا بیلې ډلې د سیاسي او اقتصادي ګټو لپاره بیا سره راټولیږي او یو ځای کیږي. "لوړ پوستونه په عموم ډول د سیاسي پانګې په څیر په مذاکراتو او د حمایتي سیستم په اړیکو کې کارول کیږي. کسان په پوستونو باندې د هغوي دوړتیا له مخې نه ګمارل کیږي، بلکه زیاتره د یوې پراخې سیاسي او اقتصادي جوړ جاړی په نتیجه کې پوستونه ورکول کیږي، چې وړتیا او د حکومتدارۍ په ساحه کې راتلونکې اجراات په اړین ډول په پام کې نه وي نیول شوي."[23] دغه شرایط په دې ډول د پریکړو کیفیت او وړتیا متاثره کوي ځکه د پریکړو په پروسه کې له مسلکي تجربو او پوهې څخه ګټه نه پورته کیږي. حمایتي سیستم د ولسوالی تر سطحې او حتي په ځینو ولسوالیو کې د ټیټې رتبې په تعینولو کې هم عملي کیږي. کله چې د پریکړو کوونکي له مقاومت یا مخالفت سره مخامخ شي، د خپلو انتخاباتي ناحیو په ګډون، حمایتي سیستم د دې ضمانت کوي چې د دوي د خوښې ځواکمنان بل ځای یا بلې رسمي دندې ته تبدیل کړي. اوسنی سیاسي

> "په تیرو پنځو کلونو کې د هیڅ ډول عمل د ترسره کولو او یا نه کولو حساب نه و موجود، نو د راتلونکې لپاره څه ضمانت په دې اړه موجود دی؟" د معارف ریاست، ولایتي مشر

سیستم د حساب ورکوني ځو میکانیزمونه چې موجود دي له منځه وړي یا یې له پامه غورځوي.[24] په دې ډول افغانان د حمایې د سیاست د اووښتونکو او ناکراره جوړښتونو قرباني کیږي.

له بشري حقونو څخه د سرغړونو په محوه کولو کې بیرته پاتې کیدل د دې سبب ګرځي چې له ځواک څخه اوسنۍ ناوړه استفادې همداسې دوام پیدا کړي. په افغان مشرانو او د دوي په نړیوالو همکارانو کې د سیاسي ارادې نشتوالی چې د بدې استفادې له ډیر پخوانۍ تاریخ سره مقابله وکړي، له جرم څخه د معافیت اوسنی کلتور ته وده ورکوي. ترڅو پورې چې د بشري حقونو تیری له پامه غورځول کیږی، هغو کسانو ته چې له ځواک څخه ناوړه ګټه پورته کوي په غیر مستقیم ډول د دې عمل اجازه ورکوي.د چارواکو له خوا د بدې استفادې په باب راپورونه په ندرت سره په دې انجامیږي چې تحقیقات وشي یا تورن کسان تر عدلي تعقیب لاندې ونیول شي، او په دې ډول د اغیزمنې تلافي مخنیوی کیږي. همدارنګه د ځواکمنانو له خوا د تهدید او غچ اخیستنې ویره د حساب ورکونې امکانات له ستونزو سره مخ کوي. دغه شرایط او له دې سره له شکایتونو وروسته هیڅ مثبتې نتیجې ته نه رسیدل توضیح کوي چې افغانان د ستونزو په برملا کولو کې ولې زړه نا زړه دي. لکه څنګه چې په غور کې یوه ځواب ورکوونکې وویل: "زموږ خلک شکایت نه کوي، ځکه دوي په دې باور دي چې شکایت کوم ځای نه نیسي."[25] د ولسوالیو په سطحه د څو استثناو پرته، د قانون د نافذیدو چارواکو نشتوالی د دې مانا لری، چې د افغانستان په ډیرو برخو کې قانون په سیستماتیک ډول نه عملي کیږي. په دې ډول څوک چې غواړي موجوده حالت ته بدلون ورکړي اړ دی د عامه موسساتو له مرستې پرته یې وکړي.

مدني ټولنې[26] او د خبري رسنیو[27] نقش د څارونکې په ډول د دې امکانات محدود کړي دي چې د افغانتسان د اوسنۍ حاکمې وضعې په اړه پوښتنه وشي. که څه هم کله کله په عمومي کچه مباحثې رامنځ ته کیږي، لکه څنګه چې د ۲۰۰۹ د ولسمشري او ولایتي شوراګانو د ټاکنو په وخت کې وشو، خو دغه مباحثې تر ډیره بریده په ښاري مرکزونو کې جارې وې. مدني ټولنه په عمومي ډول داسې یوه قوه نه بریښي چې د حکومت او د دونرانو د پالیسیو په طرح او د هغو په تطبیق باندې کومه اغیزه وکړي. حکومت او یا غیان دواړه په خاص ډول د بیان آزادي په دې ډول محدودوي، چې ویره او وحشت یې خپور کړي، ژورنالستان په نا قانونه ډول نیسي او د هغوي په قضیو درنې قضایي فیصلې صادروي.[28]

د هغو افغانانو په منځ کې چې له حکومت څخه د ځینو اجرااتو تمه لري، د ناهیلې احساس ریښې غځوي.[29] د لوګر ولایت د خروار په ولسوالی کې، چې هلته د یاغیانو زیات شمیر شتون لري، یو قومي مشر وایې: "له ۹۰ ٪ څخه زیاتو خلکو، د ښځو په ګډون په دې ولسوالۍ کې د ۲۰۰۴ کال د ولسمشری په ټاکنو کې خپلې رایې د کرزی په ګټه واچولې خو اوس خلک د حکومت له اجرااتو څخه ناهیلی شوي دي او احساسوي چې په بشپړ ډول له پامه لویدلي دي."[30]

په افغانستان کې د حکومتداري اوسنی شکل داسې دی چې یو محدود شمیر خلک پریکړې کوي او فیصلې په داسې ډول عملي کیږي چې هیڅ څرګندوالی او حساب ورکونه پکې نشته. ځواکمنان ډیری کمې داسې انګیزې ویني چې له مخې یې ځواک له نورو سره شریک کړي او د عامو خلکو ګټې د خپلو ګړنو لارښود وګرځوي او یا په خپلو ژمنو ودریږي. لکه څنګه چې یوه د لړی ځمکې خاوند د څیرنې ګروپ ته په مرکه کې د ننګرهار په ولایت کې د اپینو د کښت د محوه کولو په باب وویل: "هغه موافقه چې د اپینو د کښت د مخنیوی په اړه د محلي مشرانو له خوا شوې ده، د بې وزلو په ګټه نه وه. د بې وزلو خلکو کښتونه واړول شول، خو هغه کښتونه چې په ځواکمنو کسانو پورې یې اړه درلوده نه دې اړول شوي."[31]

## فساد

په افغانستان کې له ځواک څخه د ناروه استفادې تر ټولو مهمه بڼه چې تر بحث لاندې ده د فساد او د سرچینو، د بین المللي ټولنې د سرچینو په ګډون بلې خوا ته د سوق کولو مسالې دي. په ۲۰۰۵ کې افغانستان د بین المللي شفافیت د موسسې د فساد په لست کې له ۱۵۹ هیوادونو څخه په ۱۱۷ لمبر کې راغلی دی. څلور کاله له هغې وورسته افغانستان په نړۍ کې دویم په فساد اخته هیواد پیژندل شوی چې یوازې له جنګ ځپلې سومالیا څخه مخکې و.* په ۲۰۱۰ کې د نشه یې توکو او جنایتونو لپاره د ملګرو ملتونو دفتر راپور ورکړ چې افغانانو په تیر کال کې دوه نیم بلیونه ډالر د رشوت په ډول ورکړي دي.** لږ تر لږه له دوو تنو څخه یو افغان اړ و چې رسمي چارواکي ته رشوت ورکړي. دغه مقدار په اوسط حد ۱۵۸ ډالره د هر یوه سړی پر سرجوړوي او دا په یوه داسې هیواد کې چې کلنۍ مجموعي عایدات د سړي په سر ۴۲۵ ډالره جوړوي. په دې ډول "دا رقم د داسې خلکو په اوږو لوی بار دی چې په نړۍ کې تر ټولو فقیر خلک دی."

فساد ډیرې ژورې ریښې غځولې ځکه چې قضایي سکټور ډیر کمزوری دی او د څارنې لپاره یوائې یو څو میکانیزمونه شته. که څه هم د رشوت ورکولو څخه کرکه کیږي، خو حتی فقیر خلک هم که وکړای شي حاضر دي چې د خدمت په بدل کې رشوت ورکړي.

په افغانستان کې د فساد ډیر شکلونه په ګوته شوي دی، چې د رسمي پوستونو د نیولو لپاره بنیادي خدمتونو ته تر لاس رسي پورې د رشوت ورکول پکې شاملیږي. د فساد دغه شکلونه ټول هغه معیارونه بې اعتباره کوي، چې د عامه سرچینو د تخصیص لپاره موجود دي. که چیرې یو شخص عمومي خدمتونو ته لاس رسي نه لري، ځکه چې دی یا دا نه شي کولی یا نه غواړي چې رشوت ورکړي، یا یو حکومتي پوست واخلي، د عدم تبعیض اصل په دې حال کې خپل ارزښت له لاسه ورکوي. د فساد څخه راوتلې تاوانونه ډیر زیات دي: کمزوري عامه ادارې، نا برابره اجتماعي خدمتونه، د عدالت نشتوالی چې د قضایي ادارو له خوا باید عرضه شي، په دولت باندې د اعتماد او باور له لاسه ورکول او ډیریدونکې بې کفایتي. په دې حالت کې بې وزله افغانان تر ټولو زیات ځوریږي او زحمتونه ګالي. په دې ډول دغه خلک نور هم ګوښه کیږي ځکه چې دوي په معمول ډول تر زیاته بریده په عمومي خدمتونو تکیه کوي او د دې توان نه لري چې د دغو خدمتونو لپاره رشوت ورکړي. کله چې هغه سرچینې چې د روغتیا، عدالت، تعلیم او نورو عامو خدمتونو لپاره باید مصرف شوې وای له خپلو اصلي هدفونو څخه بلې خوا ته سوق شي، په دې حالت کې ټولې هغه هڅې بې ځایه پاتې کیږي چې غواړي افغانان له فقر څخه را وباسي او د ټولو خلکو ژوند ته ښه والی ورکړي.

د افغانستان په شرایطو کې چې د پریکړو پروسه د ځواک په سر د نا برابره اړیکو په چوکاټ کې کیږي او دولت اکثرا د خپلو اتباعو پام نه ساتي، په دې چاپیریال کې ځواکمنان ډیر ښه کولای شي چې خپلې خوښې عملي کړي. فساد په هغه طریقه باندې اغیزه کوي چې پریکړې په کی کیږي او د عامه موسساتو لپاره لومړیتوبونه ټاکي. په نتیجه کې ویلای شو چې په اجتماعي ډول د ځینو خلکو ګوښه کیدل دایمي شکل اختیاروي، ځکه چې لومړیتوبونه د هغه چا له خوا ټاکل کیږي چې ځواک لري، نه د هغو کسانو په ذریعه چې ګوښه کړای شوي دي، لکه څنګه چې افغاني شرایط څرګندوي، فساد دغه راز په غیر مستقیم ډول وده مومي، ځکه چې د متاثره شویو اشخاصو لپاره داسې یوه اغیزناکه وسیله نشته چې په ذریعه یې حکومت حساب کتاب ته اړ کړي او یا د شفافیت او روڼوالی غوښتنه وکړي.

* http://www.transparency.org/policy_research/surveys_indices/cpi/2009/cpi_2009_table.

** د ملګرو ملتونو د نشه یې توکو او جرمونو په وړاندې د مبارزې دفتر، په افغانستان کې فساد: د قربانیانو له خوا د رشوت ورکولو راپورونه، جنوري، ۲۰۱۰.

## دریم. د امنیت نشتوالی

نا امني د افغانانو په ژوندانه کې یوه ثابته برخه لري. وسله واله شخړه فقر لا پیچلې کوي او زیاتوي یې او د ودې او پرمختګ د پروګرامونو مخنیوي کوي او یا یې په ټپه دروي.

شخړه د اسې یو چاپیریال رامنځته کوي چې په هغه کې محلي شخړې داوتریخوالی ویلو له لارې اوارې شي.

د دې واقعیت سره چې خلک په پراخه کچه پر دې باور دي چې یوځې کړنلاره په افغانستان کې د کړکیچ د اوارولو غوره لاره نه ده، د فقر د اغیزو د کمولو لپاره، او د عدالت د تامینولو لپاره چې د افغانستان د لومړیتوب وړ اندیښنو له جملې څخه بلل کیږي، پانګوني خورا محدودې دي.

وسله والې شخړې نږدې د ټولو افغانانو ژوند متأثره کړې دی چې د نفوسو ۹۶ سلنه جوړوي[32] دا یوه مجموعي او ناخالصه احصائیه ده چې مرګ، ژوبلتیاوې، معلولیت، د کورونو، شتمنیو او د معیشتونو ویجاړول په کې شامل دي چې د ژوند د بقا لپاره اړین بلل کیږي. د آی سي آر سي څیړنه دا هم ښیي چې د جګړې د اوږدو کلونو په ترڅ کې ۷۵ سلنه افغانان له خپلو کورونو څخه کوچېدلو ته اړ شوي او ۶ سلنه یې له خپلو کورنیو څخه جلا شوي دي. په وروستیو کلونو کې(پر ملکي وګړو د اړول شوي مرګ ژوبلې له امله) د افغانانو پر ژوندانه باندې د وسله والې شخړې مستقیمې او غیر مستقیمې اغیزې ، په مختلفو سیاسي کړیو کې زیاتېدونکې پاملرنه ځان ته را اړولې ده. [33] د رواني جګړې د څو کلونو په نتیجه کې نږدې نیمایي افغانی کورنېو د خپلو غړیو د جلاتوب راپور ورکړی دي. ځینې مرګوني ټاکټیکونه چې نن سبا ور څخه کار اخیستل کیږي، چې په هغه کې د تعبیه شوې چاودېدونکو توکو کارول، هوایي برېدونه، ځان وژونکي برېدونه، د شپې له خوا برېدونه شامل دي، دخلکو ژوند ستونزمن کړی دی.[34]

> "ډیری روغتیایي وداني زیانمني او یا هم ویجاړ شوې دي، او روغتیایي خدماتو ته لاسرسي محدودې شوي دي. په کندهار کې د میرویس روغتون د ۳,۷ میلیونه کسانو لپاره چې د افغانستان په سهیلي سیمه کې ژوند کوي، یوازینی روغتیایي مرجع ده. په هره میاشتې کې نوموړی روغتون څه باندې ۵۰۰۰ کسان باندیني ناروغان، او څه باندې ۲۰۰۰ بستري ناروغان تر درملني لاندې نیسي" آی.سي.آر.سي. د افغانستان د نظریې سروې ۲۰۰۹

د ځاني زیانونو تر څنګ، افغانان د معیشتي ابزارو له لاسه ورکولو، د تعلیم او تربیې، روغتیایي خدمتونو، او نورو ضروري خدمتونو ته د نه لاسرسي له پلوه هم ډیر زیانمن شوي دي. په ځینو سیمو کې مکتبونه تړل شوي، کلینیکونه د لاسرسی وړ نه دي، او سړکونه یوازې په خورا احتیاط سره د کارولو وړ دي. شخړې همدارنګه د افغانانو د شریکبانو د مرستو د رسولو او پراختیا ورکولو ظرفیت هم اغیزمن کړي څو بشري او پرمختیایي اړتیاوو ته ځواب ووایي: په ۲۰۰۹ کال کې د نا دولتي سازمانونو د کارکوونکو شمېر چې د خشونت په پېښو کې وژل شوي دي را پریوتله خو د دې سربېره هم د نا دولتي موسسو کارکوونکی چې ټول افغانان و ۱۹ کسان په مختلفو پیښو کې وژل شوي دي. په ۲۰۰۸ کې ۳۸ مرسته رسوونکي کارکونکي په تاوتریخجنو شرایطو کې مړه شوي دي. د تلفاتو کمښت په پراخه پیمانه د امنیتي تدبیرونو د لا ټینګښدو څرګندوي دی، چې د هغو له جملې څخه په افغانستان کې په فعالیت بوختو نادولتي موسسو له خوا د خوځښتونو ذاتي محدودیت، او په امنیتي پالیسیو کې بدلون هم شامل دي.[35] په نتیجه کې په ځینو سیمو کې ډیر پراختیایي پروګرامونه په ټپه درېدلی او بشري مرستې رسوني راکمې شوي او د بشرپالو فعالیتونو فضا ډیر زیات محدود شوی دی ځکه ناامني بشردوستانه فعالیتونو ته لاسرسي او دغه فضا تنګوي. د زیانمنتیا کچه په پراخېدو ده او دودیز مقاومتي میکانیزمونه هم نا کافي بریښي.

کله چې یو کورنی خپل ډوډۍ راوړونکی غړی له لاسه ورکوي، نو ښځې او ماشومان چې د افغاني شخړې "نالیدلی قربانیان" بلل کیږي یو درانه بار سره مخ کیږي. اکثره کورني چه یو نارینه غړی له لاسه ورکوي، وریسې یتیم ماشومان او کونډې ښځې پاتې کیږي چې هیڅ کوم ملاتړ نه لري. او اکثره د هغو کورنیو چې خپل ډوډۍ راوړونکي غړي له لاسه ورکوي دهغو ماشومانو د سوال کولو لپاره سړکونو ته وځي.[36] د هغو ټولنیزو او فرهنګي معیارونو په نظر کې نیولو سره چې په افغانستان کې موجود دي، کله چې د نا امني له امله محلي خدماتو لکه ښوونې او روزنې، او روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی محدود شي، نو ماشومان او ښځې په ځانګړې توګه د

اضافي تهدیدونو سره مخامخ کېږي چې د هغوي سوکالي په کې ګواښ سره مخامخ کېږي. ځکه چې هغوي ته په عمومي ډول بل څه بدیل نه شته.

وسله واله شخړه نورې منفي اغېزې هم لري چې د بې وزلو او نیستمنو خلکو وضعه لا خرابوي. لکه څرنګه چې دا د جګړې طبیعت دی چې په هغه کې له نا انډولو تکتیکونو څخه کار اخیستل کېږي، لکه د تعبیه شویو چاودېدونکو توکو کارول، ځان وژونکی بریدونه، هوایي بریدونه، او د شپې له خوا بریدونه چې په لوړه کچه د ډار او تهدید سبب ګرځي او پر معیشت او د عاید لرونکو امکاناتو او همدارنګه اړینو خدمتونو ته پر لاسرسی باندې منفي اغیزه کوي.

د اوږدې شخړې تراکمي او ترکیبي اغېزې، د محلي شخړو په شمول، ټولنیز، اقتصادي او پراختیایي نوښتونو پر وړاندې ستري ننګونې رامنځته کوي.

د څو لسیزو جګړو د شخړو د اوارولو پر دودیزو میکانیزمونو باندې هم اغیزه پرې ایښې ده، چې د کلیوال او بې وزلو خلکو پر ژوندانه باندې نور ستر منفي مالي او اقتصادي تاثیرونه پرې ایښي دي.

ډېر ځلې داسې شوي دي چې شخړې منازعې لکه هغه چې د طبیعي زیرمو لکه اوبه، ځمکې، ځنګلونو او څرځایونو پر سر راپېښېږي، په داسې توګه اوارې شوې دي چې پایله یې د ضعیفو او کمزورو په زیان تمامه شوې ده. یو وروستی بېلګه یې هغه ده چې د خوست په ولایت کې پېښه شوه، چې دا د هېواد په نورو برخو کې هم غیر عادي نه ده، چې د هغې په نتیجه کې په لسګونو مړیني رامنځته کړې.[37] په نوموړې قضیه کې جرګې پرېکړه وکړه چې د شخړې دواړې خواوې د هغې زیرمې چې شخړه یې پر سر روانه وه، له ګټې اخیستنې څخه ډډه وکړي. د اوربند د ساتلو په خاطر جرګې همداررنګه پرېکړه وکړه چې ښونځي، کلینیکونه او ګڼ شمېر ترانسپورتي لارې بندې شي چې د دې لامله نه یواځې خلک د خدماتو له لاسرسی څخه بې برخې شول، بلکې یو اضافي اقتصادي بار هم ورباندې راغی او د هغه سوداګریز فعالیتونه ودریدل.

په مکرره توګه افغانانو دا وئیلی دي چې "د ناامنۍ یو ستر لامل هماغه فقر او بې روزګاري ده." او غوښتنه کوي چې دې موضوعاتو ته باید لومړیتوب ورکړای شي.[38] د اکسفام د وروستي سروې پر بنسټ "د افغانانو ۷۰ سلنه سروې شویو په هېواد کې د ناامنۍ ستر لاملونه فقر او بې روزګاري بولي."[39] اکثره خلک په دې اند په یاغیتوب کې برخه اخلي څو څه عاید تر لاسه کړي. د حکومت ضد او یا په ناقانونو فعالیتونو کې برخه اخیستل لکه د مخدره موادو تولید یا قاچاقول د نورو فعالیتونو په پرتله هم ډېرې پیسې راوړي او هم سملاسي نتیجې لري، چیرته چې کرنه او په خصوصي سکټور کې کار کول هم ډېر زیار ته اړتیا لري او عاید یې ډېر کم دی. د مثال په توګه د خوست په سویل ختیځ ولایت کې کوچې ځوانان ساحوي څېرونکو ته راپور ورکړی چې د سړک پر غاړه یو ماین ښخول ۱۰۰۰ تر ۵۰۰۰ پاکستاني کلدارې (۱۶ تر ۸۰ امریکایي ډالره) عاید لري.[40] حال دا چې یو ښه بختور کارکوونکی په ورځې له ۴ امریکایي ډالرو پورته نه شي ګټلای. غچ اخیستنه او سیالی هم د هغو لاملونو په شمېر کې راځی چې په وسله والو شخړو کې د ځینو خلکو د برخه اخیستلو د موخو تر شا ولاړې دي.

نا امني ځانګړې خوځښتونه راولي، او دهغې په شتون کې دولتي موسسې په ځانګړې ډول عدلي سکټور نه شي کولای چې د بې وزلو ګټې خوندي کړي. دا چې افغان حکومت نه شي کولای چې ټولنه له ناقانوني څخه وژغوري، دا کار په خپله افغانان د زورواکانو په اختیار کې پرې ږدي. یو اړوند مثال یې دا ده چې د فاریاب په ولایت کې یو ځايي قوماندان ایران ته مهاجر شویو کارکوونکو څخه غوښتي چې کومې پیسې چې دوي په ایران کې د خپل زیار په نتیجه کې ګټي، یوه ټاکلي برخه یې د مالیات په ډول ده ته ورکړي او نوم یې هم پرې "ایرانپولي" ایښی و. د نوموړی قوماندان کنټرول ان د خلکو شخصي چارو پورې ورغځېده، د مثال په توګه هیڅ کوم د واده مراسم، نه شول تر سره کېدلای مګر چې دواړې خواوې ده ته د ۱۰۰ امریکایي ډالرو معادلې پیسې ورکړې نه وای. او دوي حتی د واده کوونکو خواوو پر انتخاب باندې هم مداخلې کولې. حکومت و نه شوای کړای چې په دې برخو کې مداخله وکړي ځکه چې سیمه ناامنه وه او د ځايي قوماندانانو د وسله والو کسانو تر کنټرول لاندې وه.[41] په آخر کې یوازې هغه ګډ کمیسیون چې د پخوانیو قوماندانانو، علماوو، او ځايي مشرانو څخه جوړ و، او د ولایتي چارواکو ملاتړ یې هم له ځانه سره درلود، په دې وتوانید چې د نوموړی قوماندان وسله وال بې وسلې

کړي. د افغانستان په لر او بر کې ډېر داسي ورته بېلګې شته چې د هغې په رڼا کې د بې وزلو بې ساري ستونزې راڅرګندېږي.

شخړه همدارنګه د افغانستان حکومت او د هغه د نړيوالو شريکانو د لومړيتوبونو په ټاکلو کې هم رول لوبوي، چېرته چې د مرستې مالي سرچينې زياتره نا امنو سيموته ځانګړی کېږي. د مثال په توګه که چېرې هلمند يو هېواد وای، هغه به د نړی تر ټولو پنځم ستر هيواد و، چې د متحده ايالتونو د پراختيايي موسسې مرستې اخيستونکي وای.[42] خو په دې کې شک نشته چې دا پر پراختيايي تمويل، او د فقر د کمولو د تمويل پر پرېکړو باندې تاثير اچوي.

د ۲۰۰۱ کال راهيسې، شاو خوا ۲۵ ميلیارده امريکايي ډالره، د افغانستان د امنيتي ځواکونو د جوړولو په لاره کې مصرف شوي دي. پر دې سربېره، متحده ايالتونه ۱۲۵ ميليارده ډالره افغانستان جګړې ته ځانګړی کړی ده، چې روانه شمېره يې په ورځې ۱۰۰ ميلونو ډالرو ته رسېږي. د دوي په مقابل کې پراختيايي مالي سرچېنې په مجموعي ډول ۱۵ ميليا‌ردو ډالرو ته رسېږي.[43]

زياتو مرستندويانو ځانګړی مبلغونه د افغانستان د بيارغونې لپاره ژمنه کړی خو نوموړې ژمنې اکثره يې تر اوسه پورې عملي شوي نه دي. د هغو ۴۶ ميليا‌ردو امريکايي ډالرو څخه چې له ۲۰۰۲ کاله راهيسې يې ژمنه شوې وه، يوازې درې څلورمه يې برابر شوې ده.[44] دا اټکل شوې ده چې د هغو مرستو چې د مرستندويانو له خوا کېږي، ۱۵ تر ۳۰ په سلو کې يې په افغانستان کې د هغوي په امنيتي لګښتونو کې ځي.[45] مرستندويان ناامني يو له هغو دلايلو بولي چې دوي تر اوسه پورې خپلې شوې ژمنې نه دې پوره کړې.

کله چې دا وضعيت د پراخې کچې فساد او بې کفايته حساب نه ورکوونکو دولتي موسسو سره ملګری کېږي چې معمولاً خدمات نه شي رسولای د افغانستان ناامنه سيمې د فقر او د ژور فقر او تنګلاسې سره مخ دي. خو له دې سره سره، د مرستندويانو مرستې د روغتيايي خدماتو، ښوونې او روزنې، ارتباطاتو، او ترانسپورتي آسانتياوو او د روغتيايي خدماتوپه غځولو کې ستر رول لوبولی دی. بشردوستانه مرستې، په ځانګړی ډول خوراکي مرستې د هغو خلکو لپاره چې تر ټولو زيات زيانمنېدونکی وي خورا مهمې دي. د بېلګې په ډول، - د کار په مقابل کې خوراکي توکي - د هېواد په زياترو برخو کې هم د عايداتو يوه سرچينه برابروي او هم خوراکي توکي برابروي.[46] خو زياته نا امني د ډېرو پراختيايي اقداماتو د ناکامی سبب ګرځېدلی ده. د مثال په توګه د قندهار- کابل سوداګرېزه لويه لار چې د متحده ايالتونو د پراختيايي مرستو په مټه په ۲۰۰۳ کال کې جوړه شوې وه، د جنايت کاری او شورشيانو د فعاليتونو له امله د ډېر خطر په قبلولو سره د استفادې وړ ده.

بې له شکه چې د شخړې تاثيرات د هغه مستند شويو ستونزو څخه لکه ملکي مرګ ژوبلې، او د بشري مرستې مخنيوي څخه لا زيات دي. دا د افغانانو پر اروايي حالت او اقتصادي وضعيت باندې هم تاثير کوي.

نا امني په هر شکل چې وي، کله چې د زيربناوو د ويجاړتيا، او د خدماتو د رسولو له محدوديت سره ملګری شي، نو د پراختيا مخه نيسي او د راتلونکي لپاره د پانګې اچونې ټولې انګيزې له منځه وړي.

## ځلورم: د سرچينو نا برابر ويش

> د بې کچې او لويو سرچينو راتلل افغانستان ته زياتره د نظامي هدفونو له مخې تعيينيږي نه د افغانستان د بياجوړونې او پراختيا لومړيتوبونو له پر اساس.
>
> د سرچينو د ځانګړي کولو په اړه ستر تصميمونه د افغانستان د حکومت په لاس کې نه دي.

څرنګه چې د مرستې دري ځلورمه برخه د افغان حکومت له واکه بهر ده، نو په هغه تصميمونو کې چې د سرچينو د لومړيتوبونو د ټاکلو په اړه وي، د حکومت نفوذ خورا محدود دی[47]. که څه هم له ډيرى مودې راهيسې فساد او ټيټ ظرفيتونه د مرستندويانو له خوا د دی د علت په توګه په ګوته شوې دي، چې اکثره يې معقول هم دي، او دا يوازيني علت دي چې دوي په دې تصميمونو کې خپلې مداخلې توجيه کوي، صرف په دې وروستيو مياشتو کې د حکومت او د نړيوالې ټولنې د ژمنتيا په اړه بحث رامنځته شوی چې دواړه په ګډه له فساد سره مبارزه وکړي. يوه ځواب ويونکې چې د ساحوي څيړونکو له خوا ور سره مرکه شوې وه، وويل چې تمويلوونکې هيوادونه خپلې مالي سرچينې د خپلو پوځې اهدافو او اجنداوو سره سم مصرفوي نه د اړتياوو د بې طرفې او واقعي ارزونې پر بنسټ. "مونږ خو د مرستو په سياست باندې پوه نه شوو. که چېرې نړيواله ټولنه د خپلو ذاتي اهدافو، لومړيتوبونو، او خوښو پر اساس مرستې کوي دا به بې ګټې وي."[48] د مرستو د رسولو موسسې هم ورته شکايتونه لري. [49] د دغو موسسو څخه يوې داسې وويل چې د کار طريقه داسې ده چې ډېرې غټې پروژې چې زيات عايد لري او زياتره د شخصي ګټو غوښتونکو له هغو کمپنيو له خوا تطبيقيږي چې عموماً د پوځي او سياسي لومړيتوبونو سره تړاو لري، او هغه جغرافيايي سيمې په نظر کې نيسي چېرته چې نومورې تمويلوونکې هېواد نظامي او يا سياسي ګټې لري، د خورا زياتې مالي سرچينو سره سره چې افغانستان ته راغلې دی، د افغانانو بشري او پراختيايي اړتياوو ته کافي پاملرنه نه ده شوې.[50]

> د ولايتي بيا رغاونې ټيم (يا پي آر ټي) ماموريت دا دی "چې د افغانستان له اسلامي جمهوريت سره مرسته وکړی چې د ارامه او باثباته چاپيريال جوړولو په عملياتو کی په ځانګړی شويو سيمو کې د پراختيايي کارونو د تسهيل لپاره خپل واک وغځوي، د امنيت په سکټور کې اصلاحات راولي او بياجوړولو هڅو ته زمينه برابره کړي."
> د پي آر ټي مشريزه کميټه د ۲۰۰۵ د جنوری مياشت.
>
> د متحده ايالتونو کانګرس، د امريکا د ولايتي بيارغاونې ډلې ماموريت داسې بيانوي: "د خلکو او د دولت تر منځ د اړيکو د پياوړی کولو له لارې پر جنګي برياوو پانګونه او د حکومت د مخالفينو د استخدام او جلب او جذب لارې بندول."
> د کانګريس د بودجې توجيه د ۲۰۰۹ مالي کال، د جنوبي او مرکزي آسيا لنډيز ۵۵۶.

په عمومي توګه دا شان کړنلارې د افغانانو د اړتياوو د پوره کولو کار ستونزمن کوي. مرستې د يو لړ ميکانيزمونو له لارې رسول کيږي چې راز راز ستراتيژي ګانې په نظر کې نيسي چې ځينې يې ضرورتاً د افغان حکومت د لومړيتوبونو سره په سمون کې نه دي. د دې يو مثال هغه جنجالي "د زړونو او فکرونو ګټل" ستراتيژي يادولاى شو چې د متحده ايالتونو د پوځي عملياتو د لارښود يوه برخه جوړوي، او د افغان حکومت په هيڅ يوه ستراتيژيک پلان جوړونکي سند کې نه ده ځای شوې.[51] د لګښتونو ستره برخه د ولايتی بيا رغاونی ټيمونو له لارې کيږي چې د نومورې ستراتيژي "د زړونو او فکرونو ګټل" عمده فعالان دي. په داسې حال کې چې ځينې په دې باور دي چې دغسې ستراتيژي ګانې په ځينو ډيرو نا امنو سيمو کې ضروري دي، خو د دې طرحې په رڼا کې مرستې زياتره د پوځي لومړيتوبونو سره سم، تر سره کيږي.[52] دا طريقه د دوامدارې او مساويانه پراختيا د مفهوم سره په ټکر کې ده چې ايجابوي چې مرستې بايد تر ټولو زيات بې وزله او زيانمنېدونکې په نښه کړي او نه دا چې "پر جنګي برياوو پانګونه وکړي." [53] پي آر ټي ډلې د پام وړ زيات مالي سرچينې په واک کې لري چې کله داسې شي چې پي آر ټي په ځينو مواردو کې نه يوازی د ځايي حکومت مسئوليتونه په غاړه اخلي بلکې ځايي حکومت تر خپل سيورې لاندې راولي. دې کار د ځايي حکومت د دولتي موسسو وده ځنډولې ده او په نتيجه کې يې د منځ مهاله او اوږد مهاله پايښت لرونکې پراختيا کمزورې کوي. او "د هغو هڅو مخه نيسي چې د پراختيا پروسې تر افغاني مالکيت د راوستلو په موخه تر سره کيږي" [54]

د نويو شويو ژمنو سره سره چې د بيارغونې هڅې د افغاني کولو په موخه شوي، د افغانستان امنيت او د پراختيا په باب نيول شوې تصميمونه په پراخه پيمانه د نړيوالې ټولنې په لاس کې دي، او سربېره پر دې، دا چې د مرستو پيسې په پايله کې چېرته ځي، د اندېښنې ځای دی: د راپوروونو له مخې د دې مرستو ۴۰ ٪ د مشورتي او نظارتي تنخواګانو او بشکيلو شرکتونو ګټو له لارې بېرته مرستندويه هېوادونو ته ګرځي.[55] په ۲۰۰۲ کال کې افغانان په دې عقيده وو چې له ۴۰ په سلو کې کمې مرستې افغانانو ته رسېږي.[56]

جالبه دا ده چې حتی هغه مواردو کی چې مرستندويان د پام وړ نفوذ هم لري، لکه د افغانستان د ملي پرمختيا ستراتيژی (ANDS)، دا ضروري نه ده چې د مالی ملاتړ يو تضمين دې وي. د ۲۰۰۹ د مرستندويانو مالي بيا کتنه راپور ورکوي چې تقريباً د هغې پيسې چې ژمنه يې شوی، نيمايي (له ۱۰,۴ ميليارده ډالره څخه ۴,۸ ميليارده ډالره جوړوي)، او که هغه مالي سرچينې هم په نظر کې وساتو چې په مستقيمه توګه د مرستندويانو له خوا لګول شوی دی، د ملي ستراتيژي په ملاتړ کې د ټينګې ژمنې او تاييد سره سره، او د لندن په کنفرانس کې له شوې ژمنې سره چې ۱۰,۴ ميليارده ډالره به د ملي ستراتيژي د تطبيق سره وتړل شي، د افغانستان د ملي پرمختيا د ستراتيژي د سکټوري لومړيتوبونو څخه بهر پاتې کېږي.[57]

يو مثال يې د کرنې په ارتباط دی. په ANDS او همدارنګه د پاريس د ۲۰۰۸ کال په اعلاميه کې، او د ۲۰۰۹ د هاګ په کنفرانس کې، افغان حکومت د کرنې سکټور د يو کليدي لومړيتوب په ډول معرفي کړی و. او په دې فکر و چې ”د کرنې د سکټور پراختيا به دا ثابته کړي چې د هيواد د فقر په کمولو، د وظيفو په ايجادولو، او د عوايدو په ترلاسه کولو کې بريالی کېږي که پاتې راځي.“ [58] خو په هر حال نوموړي سکټور ته لا تر اوسه پورې په کافي اندازه مالي سرچېنې نه دي ځانګړې شوې، چې په نتيجه کې يې د هغو پروګرامونو تطبيق چې د افغانستان د پراختيا لپاره حياتي دي، له خنډ سره مخامخ کړي. يوه بله موضوع چې دا مثال يې روښانول غواړي، دا ده چې د کرهنې سکټور به څرنګه تمويلېږي. د افغانستان حکومت يو هراړخيز پروګرام وړاندې کړی، خو که چېرې مرستندويان په خپله خوښه د نوموړی پروګرام برخې ځانته غوره کړي او خپلو کرهنيزو لومړيتونو ته وګوري، نو حکومت خپلو موخو ته نه رسيږي. لکه څرنګه چې کرهنيز کارپوهان وايي، د بې وزلې د ننګونې په ځواب کې د کرهنيزو توليداتو زياتوالی هغومره نه دی مهم لکه څومره چې د هغو توليداتو ته د کورنيو غړو لاسرسي، او د هغو متوازنه ويشنه مهمه ده.[59] د بشري حقونو د عالي کمشنری له خوا په برابر شويو څو ورکشاپونو کې (دايکندي ۲۰۰۹)، يو ځواب ويونکي د څو کسانو نظريه يې په دې طريقه خلاصه کړه ”دا نړيواله ټولنه ده چې زمونږ د پراختيايي پروژو په اړه پرېکړې کوي، ما په خپله د شپږو کلونو لپاره په ولايتي ادارو کې کار کړی، او دوي لا تر اوسه پورې نه غواړي چې زمونږ د ربښتينو اړتياوو په اړوند زمونږ وړانديزونو ته غوږ ونيسي.“ [60]

د مرستو د بهير په اړه د موجوده ننګونو د رسيدګی لپاره ګڼ ابتکارونه په لار اچول شوی وه. د هغو له جملې څخه، په ۲۰۰۶ کې د افغانستان ترون د همغږي او نظارت ګډ بورډ JCMB و چې د افغانستان د نړيوالو شريکانو او د حکومت د هڅو د همغږی کولو لپاره رامنځته شوی و. [61] د همغږي او نظارت ګډ بورډ داسې يو تشکيل (فورم) نه وو چې د هغه په چوکاټ کې مرستندويان خپل لومړيتوبونه تعقيب کړي، بلکې د نوموړی بورډ څخه تمه کېده چې دا يقيني کړي چې مالي سرچينې په سمه طريقه او د حکومت له خوا د ټاکل شويو لومړيتوبونو سره په سمون کې مصرفيږي. که څه هم بلنه ورکېده چې د نظارت او همغږي بورډ به د يوازينی همغږی کوونکی هيأت په ډول وپيژندل شي، [62] د نظارت او همغږی بورډ لکه څرنګه چې د هغه ماموريت ايجابوي، په تېرو وختونو کې تل د ستونزو سره لاس په ګريوان و چې د افغانستان د ترون د پلي کولو لپاره د افغان حکومت او د نړيوالې ټولنې په هڅو کې همغږی رامنځته کړي.[63]

د ۲۰۱۰ کال په لومړيو کې يو مثبت راپور تر لاسه شو، کله چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د عمومي سرمنشي ځانګړی استازی کای آيده اشاره وکړه چې د ملګرو ملتونو له خوا په لاره اچول شوی JCMB د ريفورم د همغږی اغيزمن ميکانيزم رامنځته کړی، او همدارنګه د لومړيتوبونو د ښې پېژندنې په برخه کې يې نتيجه ورکړی. نوموړی په دې هم ټينګار وکړ چې د دې لپاره چې د مرستندويانو مرستې له دغو لومړيتوبونو سره سمې تنظيم شي، نورو پرمختګونو ته اړتيا ده.[64]

د افغانستان مختلفو ولایتونو ته د پراختیایي تمویل نا برابره تخصیص ورکول، یوه اوږدمهاله اندیښنه ده. د ۲۰۰۸ کال په پاریس کې د مرستې د اغیزمنتوب په اړه د ترسره شوی کنفرانس په ترڅ کې پر دې موضوع ټینګار وشو چې ''د پراختیا ګټې باید ټولو ته په مساویانه ډول ورسیږي.'' خو بیا هم د دولت او مرستندویانو د تمویل یوه غټه برخه په ځانګړې توګه د پي آر ټي له لارې شخړې ځپلو سیمو ته ځانګړی کیږي، چې په نتیجه کې یې با ثباتو سیمو ته ډیر ناڅیزه ګټه ور په برخه کیږي.[65] پراختیایي تمویل همدارنګه د هیواد ځینې برخې له پامه غورځوي چې ریښتینی اقتصادي وړتیاوې هم لري، چېرې چې نسبتا آرامه وضعیت مرستندویې ټولنې ته دا اجازه ورکوي چې د اړتیا وړ خدماتي زیربناوی جوړې کړي. لکه څرنګه چې د هیواد په لویدیځه سیمه کې د بادغیس ولایت د آبکمري د ولسوالي څخه د دې موضوع په اړه چې مرستې ټول هغو نارامو ولسوالیو ته لیږدول کیږي، یو مشر وویل: ''سره له دې چې زمونږ خلک ډیر فقر هم دي خو زما ولس له دولت سره همکاري کړی ده او د ولسوالي په ټولو برخو کې امنیت تامین دی، چې ان د ډایاک د پروسې له خوا د "سولې د ولسوالۍ" نوم یې خپل کړی. مونږ هم غریبان یو او کومکونو ته اړتیا لرو خو مونږ وینو چې ټول کومکونه بالامرغاب ته ځي، دا حالت پوښتنه رامنځته کوي چې آیا مونږ هم کېدای شي پر دې فکر وکړو چې ځینو یاغیانو ته موقع ورکړو تر څو حکومت مونږ ته هم توجه وکړي.'' [66] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون دا په ګوته کوي '' که څه هم کومې سرچینې چې نارامو سیمو ته ځانګړی کیږي د هغو سرچینو په پرتله چې آرامو سیمو ته اختصاص ورکول کیږي زیاتې دی. خو د دغو سرچینو څخه د استفادې په برخه کې د خلکو د ګډون کچه ډیره ټیټه ده. که چېرې پرمختیایي پروګرامونه د بې وزلو او نیستمنو خلکو متوازن او سیستماتیک ګډون په نظر کې و نه نیسي، نو شتمن به لا شتمن شي، او زورواکان به لا زورور شي او فقیر به ورځ په ورځ لا فقیر او تش لاسي شي.'' [67]

## پنځم: د انتخاب نشتوالی

| |
|---|
| د ډيری افغانانو لپاره د فقر سره مقابله او د آبرومند ژوند کولو امکانات خورا زيات محدود دي؛ د دې سربيره فرهنګي نورمونه ښځې له دې څخه منع کوي چې په کاري ځواک کې شاملې شي چې دوي او د دوي معيشت د فقر په وړاندې د زنانمنيدنې سره مخ کوي. نړيواله ټولنه نظامي او سياسي ستراتيژي تعقيبوي، افغان ځواک لرونکي کسان زياتره د خپلو شخصي ګټو لپاره کار کوي. هغه نوښتونه چې د بې وزلو لومړيتوبونه په پام کې نه لري اغيزمن او پايښت لرونکي نه دي. |

"د يو بې وزله شخص د تشخيص نښه دا ده چې هغه ډير امکانات نه لري چې سوکالي او د ښه معيشت سره ژوند وکړي. "[68] بې وزله افغانان په ژوندانه کې ډير لږ فرصتونه او امکانات لري، په تيره بيا کله چې دا د فقر سره په مقابلې او مجادلې پورې تړاو ولري.

په انفرادي او د کورني معيشت په کچه، فقر د اکثريت افغانانو د ژوندانه دا ځواکمنتيا محدودوي چې هغوي په وياړ او درناوي سره ژوند وکړي چې په دې کې د انتخاب کولو هغه توان هم شامل دي چې د هغوي د هيلو سره سمون ولري. ډيره ستره بيلګه په پوهنې پورې تړاو لري، ځکه چې ډيری وخت دا د يوې کورنی په اقتصادي حالت پورې اړه لري، حتی په هغو سيمو کې چې ښوونځي موجود دي او ورته رسيدنه کيدلای شي. فقر يو له هغو اساسي لاملونو څخه دی چې ولې ميندې او پلرونه خپل ماشومان کارونو ته استوي د دې پر ځای چې ښوونځيو ته يې واستوي، او يا دا چې ولې ماشومان په ډير کوچنيتوب کې واده کيږي.[69] يونيسف داسې اټکل کوي چې د ۳۰ سلنې څخه زيات د لومړنيو ښوونځيو ماشومان کار کوي او دا چې د هغوي د کورنيو د اساسي عايد سرچينه او منبع همدغه ده.[70] د دې په نتيجه کې د (لوړو او مسلکي) زده کړو نشتوالی اصلا د مسلکي امکاناتو ډګر راتنګوي څو چې يو افغان د ممکنه عايد د کچې څخه برخمن واوسي. ډيری افغانان په غير رسمی سکتور کې په کار ګومارل شوي دي او دا چې هغوي غير مسلکي کارونه ترسره کوي چې ډير لږ عايدات لري: "د افغانستان د کار بازار د وروسته پاتې اقتصاد ځانګړي مشخصات لري،دا زياتره د کرنې د سکتور له لارې فعال دی او د مولده او ښه کار د امکاناتو په برخه کې وړتيا نه لری. د ۹۰ سلنې څخه زيات کاري فرصتونه کيدلای شي چې د زيانمنونکو کارونو په توګه تصنيف او ډله بندی شي چې دا ټيکاولرونکي او کافي عايد نه تامينوي."[71] د دې يوا لامل دا دی، چې حکومت داسې پاليسي ګانې نه لري چې د هغو له مخې اقتصادي امکانات متنوع کړي چې هغه د افغانانو لپاره د مصروفيت او اشتغال د انتخاب زمينه پراخه کړي لکه د عايد راوړونکي فعاليتونه.

| |
|---|
| "هغه خپل تروورزی ته د خوراکی موادو او د ژوندانه د لګښتونو په بدل کې چې د نجلی کورنی ته برابريدل په ۲۰۰۴ کال کی واده شوه." په دايکندي کې د بشري حقونو څارونکی ۲۰۰۸ کال |

ځواکمن ټولنيز نورمونه د افغانانو انتخاب محدودوی. دا په ځانګړی ډول د ښځو د ځواکمنتيا په برخه کې ده څو هغوي په دولتي ډګر کې فعالې شي.[72] د ډيرو ښځو لپاره ژوند د کور په چاپيريال کې محدود دی، نود هغوي لپاره ډير لږ داسې امکانات شته چې په اغيزمنه توګه د ماشومانو د سترولو، پالنې، د کورنيو چارو د سرته رسولو سربيره د ټولنې په کارونو کې ونډه واخلي. د افغانستان نيمايي نفوس د ژوند له لومړۍ ورځې څخه د دې څخه منع کيږی چې په ټولنه کې ونډه واخلي او ګډون ولري څو چې په دې توګه د فقر کچه راټيټه شي.

په داسې حال کې چې ښځې معمولا په کورنيو چارو کې مصروفې وي، هغوي په عمومي توګه د کورنيو د اقتصادي کارونو څخه بې برخې او مستثنی شوي دي. په کليوالو ټولنو کې ښځې د دې پوهه او معلومات نه لري چې د کور عايد او لګښت څه ډول دی چې په دې کې د دې انتخاب هم شامل دی چې څه ډول عايد ولګول شي.[73] لکه چې يو ځواب ويونکي وويل: "که چيرې د يوه سړی ښځې ته دا امکان او فرصت ورکړای شي چې د کور په اقتصادي مسالو کې مداخله ولري او يا دا چې هغه د دې کنترول ولري او د دغې مسالی څخه د دغه سړي دوستان خبر شي نو هغوي به په ده ملنډې و وهي او په دې توګه به بدنام شي."

د دې فرهنګي ځانګړني له امله دا د حیرانتیا وړ نه ده چې فقر زیاتره په هغو کورنیو او معیشتونو کې لیدل کیږی چې کفالت او مشری یې د ښځې پر غاړه وی.[74] د ښځو تر کفالت لاندی کورنیو ځواک د عاید د زیاتولو په برخه کی محدود دی، او دا په دې اغیزه کوی چې څنګه خپلو کورنیو ته خواړه ورسوي، زده کړې ورکړي او یا دا چې هغوي ته پوره پاملرنه ولري. ټولنیز او فرهنګي محدودیتونه په عمومي صورت افغان میرمنو ته د دې امکان نه ورکوي چې هغوي د ډوډۍ پیدا کوونکو نقش او رول ولوبوي. په تیره بیا د شریعت څخه د افغانانو هغه تعبیر د دې سره متناقض دی ځکه چې د ښځو سره د کور نه دباندې د محرم ( نارینه ساتونکی) موجودیت حتمی کوی، نو په دی ترتیب د هغوي رسیدنه پراخو اشتغالي او کاري فعالتیونو ته محدودیږي.

په اعظمی کچه هغه پریکړې چې ترسره کیږي په هغو کې د وګړو د اړتیاوو او د پروژو د ممکنه ځانګړې اغیزې په اړه اکثره وخت ډیر لږ پوهاوي شتون لري. د افغانستان د پرمختیا د ملي ستراتیژۍ له مخې ونډه اخیستنه "هغه پروسه ده چې د هغې له مخې دخیلي خواوې د لومړیتوبونو په ټاکنو، پالیسي جوړونې، د زیرمو د ځانګړې کولو او پروګرامونو د پلي کولو په برخو کې اغیزه او ګډ کنټرول لري."[75] لکه چې د تمامیت او ریښتینوالی د څار موسسه څرګندوي "دغه ډول اغیزه او کنترول په عمل کې د پریکړې کولو په ډګر کې د هغو نقشونو، مسوولیتونو او دخیلو خواوو د ځواکونو سره متناسب دی که څه هم چې دا باید تر هغه حده د دخیل اړخ لپاره متناسب وي چې هر څومره چې ورڅخه اغیزمن کیږي. دغه ډول ونډه اخیستنه د ملي پرمختیایي ستراتیژۍ په ځینو برخو کې نه لیدل کیږي" [76]

پرمختیایي پروژې زیاتره وخت د سیاسي او نظامي اجنډاګانو لپاره پلي کیږي، په هغو کې هغه انتخابونه چې د افغانانو له خوا شوي دي لږ په پام کې نیول کیږي، حتی کله چې د هغوي سره په دې اړوند مشوره هم شوې وي.[77] په دې وروستیو وختو کې د USAID له خوا د تمویل په راپور کې راغلي دي "د USAID د تمویل زیاته برخه په هغو پروګرامونو کې وه چې هغه په کابل کې په هغو خونو کې د هغو افسرانو له خوا طرح شوی دي چې په ډیره کمه اندازه د دې امکان لري چې د USAID او د سفارت د محوطې د دیوالونو څخه د امنیتی ملحوظاتو له مخې د باندې ولاړ شي."[78] ډیر عام مثال یې د ولایتي بیا رغونې د ټیم (پي آر ټي) له خوا جوړ شوي ښوونځي دي چې ډیری وخت هلته نه ښوونکي او نه هم درسي مواد شته، او نه هم د پوهنې وزارت د دې وړتیا لري چې د دغه ښوونځیو مدیریت ترسره کړي کوم چې په داسې سیمه کې انتخاب شوي دي چې د محلي وګړو "زړونه او ذهنونه" خپل کړي[79]. په ځینو سیمو کې د زیاتې نا امنۍ له کبله محلي وګړي نه غواړي چې خپل ماشومان ښوونځیو ته واستوي. په دې ترتیب ډیر زیات فعالینو په پي آر ټي ګانو غږ کړي دی او په عمومي صورت په نظامیانو باندې چې په ښوونځیو کې خپله مداخله محدوده کړي.

د پي آر ټی متنازع ماډل لکه چې څرګنده شوې ده ډیری وخت د محلي او ملي حکومتي اغیزمنو موسسو د رامنځته کولو مساله له پامه غورځولې ده او هغه انتخابونه یې په نظر کې نه دي نیولی چې د ګټه اخیستونکو او مستفیدینو له خوا شوي وي: "د ټولنې د ونډې اخیستنې په لار کې ستونزو تر زیاته حده پورې د پروژو کارول او موزون والی اغیزمن کړی دی (......)"[80] او همدارنګه په داسې حالاتو کې د دولت ضد بریدونو لپاره یې لار هواره کړې ده.[81] د دې پر خلاف د طالبانو له خوا د ښوونځیو د سوځولو یوه سروې په ډاګه کوي چې هغه ښوونځي چې د دولت له خوا د ملي پیوستون د پروګرام د لارې جوړ شوي دي چې په هغه کې د قاعدې څخه پورته خوا (د وګړو د ونډې) روش څخه کار اخیستل شوی دی او ټولنې په کې شاملې دي د هغو ښوونځیو په پرتله چې د کلي او ټولنې د ملاتړ پرته جوړ شوي دي، د شورشیانو له خوا لږ سوځول شوي دي او د تخریب امکان یې کم دی لري. د ناکامو او پاتې راغلو نوښتونو مثالونه او بیلګې ډیرې زیاتې دي ځکه چې د حاضرو ګټه اخیستونکو سره مشوره نه ده شوې او دا چې د هغو ي نظریات په بشپړه توګه له پامه غورځول شوي دي. یو کروندګر د بلخ په ولایت کې د کوکنارو د له منځه وړولو د پروګرام په اړوند وایي: "زموږ کروندګرو د کوکنارو د ورکولو په بدل کې تراکتورونه ترلاسه کړې، خو دغو تراکتورونو ګټه څه ده چې که موږ نه پوهیږو چې هغه څه ډول په کارواچوو ځکه چې هیڅ ډول رسمي میکانیزم نشته، او که چیرې موږ دا کار وهم کړای شو موږ نه شو کولای چې د هغو لګښت پوره کړو."[82] د موجودو هڅو، انتخابونو شتون چې د بې وزلو وګړو د اړتیاوو لپاره وي په واقعیت کې د هغوي په واقعي ګډون پورې اړه لري چې د هغوي د فقر د له منځه وړلو د نوښتونو په برخه کې دي.

**شپږم: تبعیض او شړنه (مستثنی کول)**

تولنیز او فرهنګي او همدارنګه قانوني نورمونه د تبعیض پر بنسټ ولاړ جاري روشونو ته چې د وګړو پراخ قشرونه د انتخاب له حق څخه محروموي مشروعیت ورکوي.

په اغیزمن ډول د فقر له منځه وړل د دې ایجاب کوی چې له مختلفو عواملو سره مجادله وشي چې هغه افغانان بې وزله کوي او یا هم دا چې د فقر په وړاندې یې زیانمیندونکي کوي او دا باید د عایداتو د کچې د مسالی سره محدود نه شي.

فقر هم لامل او هم د هغې شړنې او استثنی کولو پایله ده چې ډیری افغانان ورسره مخ دي. د هرې ورځې واقعیت د هغو کسانو لپاره چې د فقر له امله ځپل شوي دي دا دی چې وګړي زیاتره وخت د لوږې سره مخ دي، هغوي روغتیایي پاملرنې ته لږ لاس رسي لري، ډیری یې لیک لوست نه شي کولای، ځینې یې حتی خپل ماشومان پلوري چې غالبا لونې وي،[83] څو په دې توګه خپلې کورنی ته خواړه برابر کړي، د هغوي ماشومان د دې پر ځای چې ښوونځي ته ولاړ شي کار کوي، او دا چې هغوي د خشونت په وړاندې ډیر زیانمنونکي دي ځکه هغوي داسې ملاتړي نه لري چې د دوي ساتنه وکړي، فساد او د مصونیت لپاره بدیل ترتیبات (لکه په خصوصي امنیتي شرکتونو کي استخدام او یا هم کډوالي) کیدلای شي ورته وړاندیز وشي. هغه محدودې لارې او انتخابونه چې د بې وزلو په وړاندې دي هغو کي کي مهاجرت یا بیځایه کیدنه او د پیسو پور کول دي. هغوي چې په مطلق غربت کې ژوند کوي، د هغوي لپاره د مصونیت د سیستم رسمي شبکه نشته، یوازې دا چې د هغو کسانو لپاره چې معیوب دي ډیر لږ او محدود تقاعد شته،د تولنې او کلي پر بنسټ مرسته یوازې د ځینو قضیو او کیسونو پر بنیاد د رضاکارانه مرستو له لارې او یا هم دا چې د شورا د نوښت د لارې ترسره کیږي. په تولیز ډول د پریشانی او غم په حالت کي که په وخت مرسته نه شي کولای چې د ډیرو بې وزلو د درد دوا شي، ډیرې ناوړه پیښې هغه دي چې په کي ناروغتیایی ستونزی او د کورنیود غړو مړینې شاملې دي چې د دې سره د هغوي مصیبتونه او ناورین لا هم زیاتیږی.

په داسې حال کې چې د افغان وګړو دوه پر درې برخه د دې څخه محرومه دي چې د مصوون او ویاړلي ژوند څخه خوند واخلي داسې ډلي او کسان شته چې د خپلې تقوی او عفت ساتنې د بې تناسبی او نا برابری سره مخ دي. شړنه او تبعیض په افغانستان کې د فقر په تداوم کې ډیر زیات رول لوبوي. دغه ډول عمدي او د سیستم دننه تبعیض او تجریدول په زیاته پیمانه د ځانګړو ډلو لپاره په افغانستان کې مضر دي چې په کې لاندنۍ ډلې شاملې دي:

<u>بې ځمکې توب:</u> کلیوال وګړی چې د تول هیواد د نفوس ۷۴ سلنه جوړوي د ځانګړو ننګونو سره مخ دي. دا اټکل شوې ده چې د بې وزله کورنیو تناسب د هغو کسانو سره چې د ځمکي څښتنان دي ۲۶ سلنه ده، په داسې حال کې چې د هغو ترمنځ چې ځمکه اجاره کوي، په شریکو حاصلاتو کار کوي او یا هم خپلې ځمکې په ګروي ورکوي، ۴۲ سلنه دي.[84] هغه څه چې جوت دي هغه دا دی چې ځمکه د خواړو لپاره مستقیمه سرچینه ده، همدارنګه یو له هغو مصونو شبکو څخه ده چې د افغانانو په اختیار کې دي. هغوي چې د ځمکو څښتنان دي په دې باوري دي او کولاي شي چې د دوکاندارانو او یا هم خپلوانو څخه پورونه واخلي. په دې ترتیب بې ځمکې افغانان د ډیرو ستونزو سره مخ دي او دا چې هغوي د پورونو په اخیستلو کې که نغدي پیسې دي او یا هم اجناس، زیاتې ستونزې لري.

کوچیان ډیر کم روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی لري. یو له وړاندیزو شوو ستراتیژیو څخه چې د دغې ستونزې سره د مقابلې لپاره طرحه شوې وه دا وه چې د کوچیانو لپاره ګرځنده روغتیایي کتنځي جوړ شي. له هغه ځایه چې د کوچیانو تولنې د هغو تهدیدونو او ګواښونو په وړاندې زیانمنونکي دي چې د یاغیانو له خوا ترسره کیږي نو د ګرځنده روغتیایي کتنځیونو لږ شمیر نه شي کولای چې په دغو نا امنه سیمو کې په یوه کې هم فعالیت وکړي. د دې سربیره ګرځنده ښوونځي د نا امنۍ له کبله ډیر زیانمن شوي دي: ښوونکو ته ګواښونه کیږي، ښوونځي تر بریدونو لاندې راځي او درسي مواد سوځول کیږي. د ګردیز د کوچیانو مشر ۲۰۰۹

کوچي: له کوچیانو څخه ۵۴ سلنه ډیر زیات فقیر ګڼل کیږی چې دا په افغانستان کې تر تولو زیات بې وزله ګروپ دی.[85] د هغوي د کوچیتوب طرز ژوند هغوي د فقر او د خطر د فکتورونو په

وړاندې زياتره زيانمنيدونکي ګرځولي دي. لکه چې يو تن ولايتي چارواکي وويل: "کوچيان د خپل ژوند د طرز له امله د لړمانو، مارانو وحشي ځناورو او همدارنګه د بارانونو، سيلابونو، يخنۍ، ګرمۍ او د هوا د نورو بدلونونو له زيان او خطر سره مخ دي."[86] ډېرو بيلا بيلو عواملو چې په هغو کې د دوي فرهنګي تشخيص، د څارويو او کډوالۍ سره د دوي تړاو او پرې اتکاء شامليږي، دوي له ميشته ټولنو څخه، چې د افغانستان د نفوسو اکثريت جوړوي جلا کړي دي، د دې لامل په وجه زيات سيستماتيک تبعيض رامنځ ته کيږي او دا د کوچيانو په پراخه فقر کې يو عامل دي چې د هغوي ژوند مشخص کوي.

د جهاد په کلونو کې ډېر کوچيان پاکستان ته وکوچيدل چې هلته دوي نيمه ښاري ژوند غوره کړ چې د دې سره يې څاروي پريښودل چې هغه د دوي د ژوندانه اساسي منبع او وسيله وه. افغانستان ته د دوي د راګرځيدو وروسته د کوچيانو ټولنې په دې کې پاتې راغلې چې د خپل ژوند پخوانۍ وسيلې او زيرمې تر لاسه کړي، يا دا چې پايښت لرونکي بديلونه ولري، د دې پر ځای هغوي په مؤقت ډول د ميشته وګړو او ټولنو تر څنګ خپلې کيږدۍ و وهلې او دا هم په هغه صورت کې چې اسکان لرونکو وګړو ورته د دې اجازه ورکړه. په ډېرو حالاتو کې هغوي خپلې کيږدۍ په دشتو او يا هم د غرو په لمنو کې وهې چيرته چې د کښت او څړ وړ ځمکه ډېره لږه ده. يو څو تنه کوچيان په دې توانيدلي چې د ورځې د مزدورۍ له لارې کار پيدا کړي. په هغو څړ ځايونو کې چې کوچيانو ورڅخه د مؤقت ميشت ځای په توګه وړاندې ترډې چې جنګ پر مخ ولاړ شي، کار اخيستلو، وروسته ميشته ټولنو خپلو کرنيزو فعاليتونو ته پراختيا ورکړه. د دې په پايله کې محلي شخړې راپورته شوې چې د ځمکې د کارولو له کبله وې او وخت په وخت يې ځانته د خشونت او تاوتريخوالي حالت غوره کړی دی. د معاصر افغان دولت له خوا د مناسب پوهاوي د نشتوالی له کبله چې په دې کې په عادلانه ډول د ځمکې اختصاص کول شامل دي، د دې لامل شو چې کوچيان د ژوندانه د دوديزو امکاناتو څخه محروم شي او په دې توګه هغوي لا نور هم په فقر کې وغورځول شول. په دې وختونو کوچيانو په زياته پيمانه د کډوالۍ او کوچ کولو څخه ډډه کړې ده او خوځښتونه يې محدود کړي دي څو د دولتی خدمتونو لکه د روغتيا او معارف څخه ګټه واخلي. خو د دې سره هم هغوي د پريکړې پروسو ته لږ لاس رسي لري او ډېر کم د دولتي زيرمو او مرستې څخه په منصفانه ډول برخمن کيږي.

<u>معيوب کسان</u>: د ۲۰۰۷-۰۸ کلونو د خطراو زيانمنيندنی ملی ارزونه *(NRVA)* د دې څرګندونه کوي چې د افغان وګړو ۱,۶ سلنه معيوبيت لري او دا تر زياتې اندازې پورې د وګړو د هرې ټاکلې برخې لپاره په منځنې ډول ۱۰ سلنه اټکل شوې ده.[87] له هغه ځايه چې په دغه سلنه کې يوازې هغه کسان شامل دي چې ډېر سخت معيوبيت لري او دا د پوهاوي وړ ده چې په هرو پنځو کورنيو کې يو شخص داسې دی چې معيوبيت لري. د دې سربيره دغه احصايې د هغو کسانو د شميرو په اړه معلومات نه ورکوي څوک چې د ضروري خدمتونو د نه رسيدلو له امله ژوندي نه دي پاتې شوي. ۱۳ سلنه معيوبيت د جګړو له امله رامنځته شوي چې په دې کې ځمکنۍ ماينونه او د جګړې څخه را پاتې شوی چاوديدونکي توکي شامل دي، په داسې حال کې چې بله دريمه برخه معيوبيت د ناروغيو او د عمر د زياتيدو له امله دی. په افغانستان کې معيوبتيا د بدنامۍ (سپکاوي) او د ټولنيزتبعيض په مانا ده. د بيلګې په ډول د دې امکان چې يو معيوب ماشوم لومړنی ښوونځي ته ولاړ شي د سالم او روغ ماشوم په پرتله نيم دی، معيوب سړی ۵۰ سلنه لږ د دې امکان لري چې د روغو کسانو په پرتله کار ولري، اود معيوبو ښځو لپاره دا امکان يو پر دريمه دی.[88] د ساحې په څيړنه کې دا موندل شوې ده چې د معيوبو کسانو له خوا د سرپرستۍ د لاندې کورنۍ په ډېرې کمې اندازې سره پوره خواړو ته لاس رسي لري او يوازې د لسو معيوبو کورنيو څخه يوه يې داسې کورنۍ وه چې پوره خوړو ته يې لاس رسي درلود. څيړنې په ډاګه کړه چې حتی معيوب وګړي چې د ځمکې څښتنان دي هغوي د ځمکې په اجاره ورکولو او يا د محصولاتو د شريکولو د لارې د خپلو ځمکو کرکيله پرمخ بيايي او د دې په پايله کې هغوي پخپلو کرنيزو محصولاتو باندې بشپړ کنترول نه لری. د غير رسمي ټولنيز خونديتوب د شبکو او ياهم د ساتنې د ميکانيزمونو د لارې ټولنې او کليوال معيوبو وګړو ته په رضاکارانه توګه صدقې او مرستې ورکوي. لکه څنګه چې څيړنه دا په ډاګه کوي چې ډېری هغه کسان چې د معيوبتيا لرونکي دي د خوراکي توکو د مرستې د پروګرامونو څخه د بيروکراسی له امله دا چې نه شي کولای ځانونه د اړوندو چارواکو ادارو سره ثبت کړي، نه برخمن کيږي.

<u>**ښځې:**</u> د جنس له مخې نا برابرې په افغاني ټولنه کې د نا برابرۍ ډېره څرګنده نښه او خورا پراخه ده. د جنډر نا برابريو چې د احصاييو له مخې د روغتيا، د مړينو د شميرو، پوهنې او سواد په برخو کې د بنيادی اود تبعيضي نورمونو او تجربو له مخې راڅرګنديږي، افغان ميرمنې او نجونې په ژوندانه کې د نارينه وو او هلکانو په پرتله لږ

انتخابونه لري. د میندو مړینه د نړۍ په کچه په افغانستان کې دوهم ځای لري چې د اټکل له مخې په هر کال کې ۲۵۰۰۰ ښځې د زیږون سره تړلو ستونزو له امله له منځه ځی. دا په افغانستان کې د میندو د مړینې یوازینی لامل دی. ځواب ویونکو د دې یادونه وکړه چې "نارینه د دې څخه شرمیږی او زړه نا زړه وي څو خپلې میرمنې د زیږون پرمهال د روغتیایي پاملرنې مرکز ته بوځي ځکه چې د زیږون خصوصیت دا دی چې په هغه کې محرمیت او شخصي پرده مطرح ده او دا د دوي لپاره د شرم سبب ګرځي چې هغه عامې صحنې ته راوړي."[89] د پام وړ شمیر ماشوماني نجوني ښوونځي نه بشپړوي او دا چې د هغوي د زده کړو چانسونه له لاسه ځي چې هغه د فقر څخه د وتلو یوه لار ده. د افغانستان د ۲۰۰۵ کال د زریزی د پرمختیا راپور کې لیدل کیږي چې په سیمه ییزه کچه د نجونو لپاره د ښوونځیو د بشپړولو او د جنسیت د برابرۍ پر لور پرمختګ دا څرګندوي چې افغانستان یوازینی هیواد دی چې د ۱۶ هیوادونو په کتار کې "په زیاته اندازه د لیکې د باندې"[90] هیواد دی. په عین وخت کې د ساحې څیړنه دا څرګندوي چې خواړو ته د رسیدو په برخه کې د نارینه وو او ښځو ترمنځ زیات توپیر دی چې دا زیاتره په فرهنګي لحاظ منل شوي تبعیض او شړنه (مستثنی کول) ده. معمولا نارینه ووته لومړی خواړه ورکول کیږي او دا چې په کور کې د موجودو خواړو څخه ښه او با کیفیته یې هغوي خوري. لکه چې یو تن ځواب ویونکی د غزنی له ولایت څخه وویل: "که چیرې ښځه شیدې وڅښي نو بیا به نارینه، ماشومانو او میلمنو ته څه ورکړل شي؟"[91] دا څرګنده ده چې په ټولنیز ژوند کې پر ښځو محدودیت نه یوازې د نارینه وو له خوا تحمیل شوی دی، بلکې د هغو ښځو له خوا هم تعقیب او ملاتړ یې شوی دی چې ټولنیزه رټنه او شړنه یې د شکایت نه کولو له لارې منلې ده. همدارنګه ښځې د میراث له حق څخه د ځمکې درلودلو په برخه کې محرومې دي. که څه هم شرعیت د ښځو لپاره یوه ونډه اجازه ورکوي (د نارینه په پرتله نیمه برخه که د اولاد په حیث وي او یا هم دا چې د میړه د شتمنۍ یو پر اتمه برخه)، دا په افغانستان کې په دودیز لحاظ نا مناسبه ده چې د ورونو څخه یوه برخه د وراثت وغوښتل شي. په ځینو ټولنو کې ورونه به د هغو خویندو سره اړیکې پرې کوي چې په کورنۍ کې د خپل میراث د ونډې غوښتونکې شي. د فرهنګ د زور سره ښځې اړې دي چې د ماشومانو پالنه وکړي او د دې له امله دا د هغوي لپاره ستونزمنه کیږي څو ددې فرصت او وخت پیدا کړی چې د کاري ځواک یوه برخه وي. "ښځې د تولید او زیږولو او اقتصادی فعالیت پر څلور لارې ولاړې دی (....) او هغه وخت ډیری ځوریږي چې کله دغه دواړه ډګرونه پر یو بل تبریږی. "[92]

**اووم: پایله**

د فقر د بشري حقونو بعدونه د ساختاري ستونزو او پروسو د پېژندني په اړه چي لاندي راغلي دی خورا اهمیت لري، د دغو ستونزو د حل لپاره کار نه دی شوی او دا چي د فقر د نوښتونو د پامه غورځولو خطر یې زیات کړی دی. د بشري حقونو یو لرلید او تحلیل د دې سره مرسته کوي چي دا باوري کړای شي چي نه یوازې لاملونه ، پایلي او عواقب په پام کي دي، بلکه د هغو پروګرامونو د طرحي او تطبیق په اړه هم معلومات ورکړي چي د مزمن فقر د له منځه وړلو لپاره دي. د هغو مسالو صریح او پریکنده ازموینه چي د ځواک د خصوصیت او کارولو، د سرچینو د اختصاص، نا امنی او پریکړو کولو سره تړاو لري او په ډېره ناوړه توګه د بې وزلو ژوند اغیزمنوي او د دې اړتیا ده چي دهغو ساختاري او جوړښتي نا برابریو سره مقابله وشي چي فقر په افغانستان کي دوامداره او زیاتوي.

ډېر افغانی واکمنان داسی کمې پریکړې کوي چي هغه د پراخو پرګنو د بې وزلو په ګډون په ګټه تمامې شي. په واقعیت سره زیاتره وخت هغوي د خپل دریځ په کارولو سره خپلي شخصي ګټي لټوي چي عامه ګټو ته تاوان اړوي. عام معافیت او ورسره کمزوري، غیر فعالي، غیر اغیزمني دموکراتیکي پروسي او فرهنګي نورمونه یو ځای ښځي او د ټولني نورې برخي په محلي او ملي کچه په حاشیه او تجرید کي راولي او په دې توګه د ځواکمنې ناوړه جوړښتونه تلپاتي کوي.

د معافیت او بې عدالتی دوه ګوني بلاګاني د افغانانو ژوند په داسي لارو اغیزمنوي چي نیغ په نیغه د هغوي په دې وړتیا اغیزه کوي څو پراخه انتخاب ولري او هغو امکاناتو ته لاس رسي ولري چي د هغوي محرومیت راکم کړي یا همدارنګه د شړني، تجرید او فقیری د حالت څخه راووځي. د افغانستان د وګړو زیاته برخه په زیاته پیمانه د انتخاب او غوره کولو څخه محروم دي او په تجرید کي دي؛ او دا چي د هغوي غړ ډېر لږ اوریدل کیږي، ښځي، بې ځمکي کوچیان او هغه کسان چي معیوبیت لري په اوسني افغانستان کي د تبعیض او تو پیر سره مخ دي.

پراخه نا امني که څه هم تر یو حده په محلي شخړو پورې اړه لري او د هغو نظامي عملیاتو سره تړلي ده چي د شورشیانو پر ضد تر سره کیږي، د افغانانو په ژوند ژوره او ناوړه اغیزه لري او د دې سره د حکومتدارۍ د ښه کولو او د برابرۍ د پرمختیا هڅي او هلي ځلي زیانمني کیږي. نا امني د ځواک د ناوړه کارولو لپاره زمینه او چاپیریال مساعدوي او په زیاته کچه د افغانانو لپاره د دې امکانات محدودوي چي هغوي اساسي خدمتونو ته لاس رسي ولري. په زیاته پیمانه په نظامي روشونو کي مصروفیت او پانګوني په مطلق ډول سرچني او توجه د پرمختیا او فقر د کمولو د هلو ځلو څخه بلي خوا ته اړولي ده چي دغه پرمختیایي هلي ځلي د ثبات او تلپاتي سولي د رامنځته کیدو لپاره ډېر زیات اهمیت لري. په لنډ مهاله موخو باندې پرله پسې تمرکز چي د ملي او نړیوالي پالیسی او د پریکړې کوونکو کړیو له خوا کیږي اوږدمهاله عکس العملونه، په تیره بیا د معافیت سره د مبارزې په برخه، کي لري چي دا په پایله کي د ډېر لږ اقتصادي او ټولنیز عدالت زمینه برابروي.

فقر نه تصادفي او نه هم غیر قابل اجتناب دی. لکه چي په دې راپور کي وکتل شو بشري حقونه یو جدي او مهم عامل دی چي هغه باید په پام کي ونیول شي څو د بې وزلو سره مرسته وشي چي هغوي د ټولنیزو- اقتصادي او د پرمختیا د نورو نوښتونو څخه برخمن شي. یوه له ډېرو لومړنیوپوښتنو څخه دا ده چي "څوک فقیر دی؟" یا په بل عبارت، هغه افغانان څوک دي چي ډېر بې وزله دي او د محرومیت د لا زیات خطر سره مخ دي؟ احصایي یوازې دا څرګندوي چي لوړه ځومره ده، د میندو مړینه څومره ده، د بې سوادۍ کچه او یا دا چي د انتخاب محدودیتونه څومره دي چي دغه ټول د بې وزلو ژوند د ستونزو سره مخامخ کوي. نورې مهمې پوښتني دا دي چي یوازې فقیر خلک کولای شي دې پوښتنو ته ځواب ووایي چي د دوي لومړیتوبونه، نظریات هیلي څه دی او د ژمنو کچه یی څومره ده څو په هغو فعالیتونو کي ونډه واخلي چي د څرګندونو له مخې د دوي د ګټو لپاره طرح شوي دي.

تجربه دا جوتوي چي په افغانستان کي د اړوندو دخیلو خواوو، که هغه ملي دي او که په محلي کچه، د پریکړې کولو صلاحیت لرونکي دي او همدارنګه پخپله بې وزله وګړي باید د دې ظرفیت وومي چي په اغیزمن ډول د فقر او غربت د له منځه وړولو د ستراتیژیو په طرح کولو او پلي کولو کي ونډه واخلي. د بشري حقونو د چوکاټ کارولو سره باید د دې اسانتیا رامنځ ته شي څو هغه خواووې چي غواړي د افغانانو غږ واورې چي په دې کي فقر په ځانګړي ډول شامل دي څو خپل د فقر د ورکولو پروګرامونه تقویه کړي. په ټولیزه توګه دا واقعي نه ده څو د

دې وړاندې وینه وشي چې د فقر د کمولو پروسه چې جوړښتي او ساختاري ستونزو ته په کې د ټولني د ځانګړو ډلو، اقلیتونو، تجرید او تبعیض هم راځي، د ځواب نه پرته، او بې له دې بریالی شي چې د نیستمنو د ژوند د بدلون او د هغو شرایطو د بدلون لپاره ژمني او اقدامات نیول شوي نه وي چې فقر تغذیه کوي. په دې توګه د ځانګړو بشري حقونو د موخو په لار کې لاس ته راوړني چې په کې د بیلګې په ډول کولای شو د تبعیض په وړاندې د مبارزې یادونه وکړو، کولای شي د یو اغیزمن معیار او شاخص په حیث دا څرګنده کړي چې آیا د ډیرو بې وزلو او محرومو کسانو په ژوند کې یې مثبته اغیزه کړې ده او که نه.

فقر په افغانستان کې په یوه خلاء کې نه دی واقع شوی. د پالیسی په اړه رواني مباحثې چې په نړیواله کچه ترسره کیږي د افغانانو لپاره چې د فقر د کړښې څه لاندې او یاهم لږ ورڅخه پورته ژوند کوي، ډیرې زیاتې اشارې او مفاهیم لري. د نظامي او نورو ستراتیژیو تعقیبول او پر مخ بوول چې د بې وزلو وګړو مصیبت له پامه غورځوي او یا هم په هغه کې زیاتوالی د هر نظره د پوښتنې وړ دي. دغه ډول روشونه، که هغه لنډ مهاله پایلې یې هر ډول وي، د دې لامل ګرځي چې د ثبات راوستلو او یا د سولې د ټینګښت هلې ځلې شاته وغورځوي.

ګڼ شمیر افغانان د دې له امله ډیر ناهیلي شوي دي چې هغه تړون چې د خلکو، دولت او د هغه د نړیوالو همکارانو ترمنځ شوې دی په پراخه توګه دا جوتوي چې د هغه په نتیجه کې د خلکو زیاتو بنسټیزو غوښتنو لکه امنیت، عدالت، خواړه، سرپناه، روغتیا، اشتغال یا کار او د ښې راتلونکې لرلید ته سم ځواب نه دی ویل شوی. نږدې د بن د تړون څخه نهه کالونه او د افغانستان په اړه د یو لړ نړیوالو کنفرانسونو وروسته چې په اصل کې د دې لپاره طرح شوي و څو د بیا رغوني او پرمختیایي پروژو له زیرمو څخه څه کار واخیستل شي او اصلاحي اقدامات ترسره کړي، نو د دې وخت اوس رارسیدلی دی چې د بې وزلو افغانانو غږ ته چې د افغانستان د وګړو اکثریت دی غوږ ونیول شي. دا چې که دغه بې وزله په دایکندي کې میشته بزګر دی او یا یوه ځوانه میرمن ده چې په بدخشان کې د زیږون پرمهال ده او یا دا چې په غور کې یو بې ځمکې کروندګر دی، که په پکتیا کې یو کوچنی پونده دی او یا هم په کندهار کې یو معیوب ځوان دی د ټولو هیلې او امیدونه عام دي او غواړي چې بیلا بیلې دخیلې خواوې چې د دې ادعاء کوي چې د افغان وګړو د حالت او سوکالۍ لپاره فکرمند دي، باید چې عملي ګامونه واخلي څو خپله پانګونه باوري کړي، دا چې دغه پانګونه څه ډول ده یوازې دا په پام کې وي چې د هغې سره هغه ستونزې لا هم پیچلې نه شي چې ورسره بې وزله وګړي مخ دي. د هغو زړو پالیسیو د سره نوي کول او یا هم بیا بسته بندي کول د کومو په پایله کې چې د فقرلمن لا هم پراخه شوه، دا په دولتی ادارو باندې د بې وزلو د عدم انتخاب او د باور د له منځه تللو لپاره یوه بله نسخه ده.

د دې راپور لپاره په څیړنه کې هغه ژورې کتنې شاملې دي چې د افغاني ټولني د بیلا بیلو قشرونو څخه راغونډې شوې دي او دا په ډاګه کوي چې بې وزله وګړي غواړي د خپلې راتلونکې لپاره یوه کوچنۍ هیله ولري چیرته چې د هغوي د بشري حقونو درناوي وشي او په هغو پیښو او حالاتو کې یو غږ ولري چې د دوي د ژوند د چانسونو او د هغوي د ماشومانو د ژوند په جوړولو کې نقش لري. تر هغې پورې چې دغه ډول هیلې او بنسټیز حقونه و نه منل شي او ورته پام و نه شي نو د بې وزلو وګړو مصیبتونه او ناورینونه به دوام ومومي او په دې توګه به د ثبات او د موکراتیزه کیدنې پروسې نتیجه و نه لري.

**اتم: وړاندیزونه**

د افغانستان دولت او د هغه نړیوال همکاران باید د پرمختیا پالیسي تقویه او هغه ستراتیژي ګانې پلې کړي چې هغه د بشري حقونو د روش سره په سمون کې وي څو په دې توګه د بې وزلو افغانانو ځانګړو اړتیاوو ته په کې د هغوي د ژوند د شرایطو سره سم ځواب وویل شي.

په دې لړ کې:

- د دې لپاره چې د افغانانو په اړتیاوو او لومړیتوبونو باندې په ښه توګه وپوهیږو او دغو اړتیاوو ته په اغیزمنه توګه ځواب وویل شي، نو په کار ده چې د اغیزمن شوو وګړو سره نیغ په نیغه مشوره وشي. په دې لړ کې د ارقامو او ډیټا راټولول او تحلیل باید تقویه شي څو په واقعي ډول سمه او منصفانه ارزونه ترسره شي چې د هغې له مخې ولیدل شي چې د دغو احصاییو او پرمختیایي شاخصونو تر شا وګړي څوک دي. په ځانګړې توګه باید د ښځو او نورو هغو ډلو ځواکمنتیا موندنې ته پاملرنه وشي چې په دغه راپور کې تشخیص شوي دی څوک او د دې لړ توان لري څو د هغو شرایطو په وړاندې ودریږي او هغه چیلنج کړي چې د هغو له امله دوي د غربت او نا ځواکمنۍ سره مخ دي.
- پر هغو موجوده بریالیو ماډلونو لکه د ملي پیوستون پروګرام باید تکیه وشي چې هغه اړونده افغانانو ته د دې ظرفیت برابروي څو د فقر د کمښت په ستراتیژیو او پروګرامونو کې موثره او ښه ونډه واخلي او د شمولیت داسې میکانیزمونه جوړ کړي چې په دې توګه د مالکیت او پایښت لرونکی پرمختیا د نوښتونو ملاتړ وشي.
- د بشري حقونو څخه په بشپړه او د تبعیض پرته برخمن کیدلو د پرمختګ لپاره د یو شاخص په توګه کارولو سره باید د فقر د کمولو د نوښتونو د اغیز ازموینه او اندازه وشی. په دې لړ کې د فقر د کمښت د اغیز ارزونې او تحلیل باید ددې لپاره وي چې څنګه ستراتیژي او نوښتونه جوړ او تر کار لاندې راغلي دي، همدارنګه په دې کې باید وکتل شي چې ایا د هغو د عملی کولو سره بشري حقونه پر ځای شوي دي او که نه. د عام شموله او شفافو، رڼو پروسو د لارې باید د پریکړې ترسره کوونکي مقامونه د خلکو له خوا حساب ورکونې ته حاضر شي.
- د یو لومړیتوب په توګه د معافیت او فساد سره باید د منصفانه او رڼو پروسو د لارې مبارزه وشي چې په دې توګه د مفسدو او ناوړه ګټه پورته کوونکو چارواکو عدلي تعقیب هم شامل دی. په دې لړ کې افغانان او د هغوي دولتي ادارې چې په کې پارلمان رسنۍ اود مدني ټولني سازمانونه شامل دي باید د حکومت او د هغه د نړیوالو همکارانو اقدامات او فعالیتونه وڅیړي او ویې ارزوي چې په دې توګه زیات شفافیت او حساب ورکوونې ته پراختیا او وده ورکړي.
- د ملکي پرمختیا او د موسساتو د جوړولو اوږدمهاله هلې ځلې باید ملکی فعالینو د نظر لاندې چې د نظامي ستراتیژۍ سره تړاو و نه لري باید د سره پیل شی او بیا استقامت ورکړای شي. په دې لړ کې د هیواد په کچه همغږې شوې ستراتیژۍ او پلانونه باید افغاني ظرفیت سره یو ځای چې خدمتونه یې وړاندې کړي او د پرمختیایي پروسې مالکیت ولري، په لومړیتوب کې راشي.
- پرمختیایي نوښتونه باید د بې وزلو وګړو د لومړیتوبونو سره په سمون کې راوستل شي او نه دا چې هغه د لنډ مهالو نظامي او سیاسي اجنداګانو سره په سمون کې وي.

## لومړۍ ضمیمه: میتودولوژي

په افغانستان کې د عایداتو د کموالی په هکله معلومات کم دي. د دې له امله، د کورنۍ پرسر د خوړو د ناخوندیتوب کچه زیاتره د فقر لپاره د یوه تعویضي شاخص په حیث کارول کیږي. د دې په پام کې نیولوسره، د غذا حق د داخلیدو د یوه ټکی په حیث وټاکل شو څو دا معلومه کړي چې څوک غریب دی او د هغه لپاره لامل معلوم کړي. د دی رپورټ لپاره په ساحه کې د موجودو کارکوونکو، داخلي او نړیوالو انجوګانو او ملګرو ملتونو د نمایندګیو د پام وړ ترکیب شویو اطلاعاتو په شمول یو شمیر مشورې ترسره شوي دي. د ډله ییز رسنیو، تمویل کوونکو او همدارنګه د نورو مرستندویه اوپرمختیایی فعالینو راپورونه بیا ارزول شوی څو د زمینې د تحلیل د چارو او همدارنګه د څیړنې د مسیر د طرحې سره مرسته وکړي. د ټیټې کچې لومړنۍ څیړنه، د بلخ، بادغیس، بامیانو، دایکندي، غور، هرات، جوزجان، کندز، ننګرهار، نیمروز، پکتیا، پنجشیر، پروان، تخار او ارزګان په ولایتونو کې زموږ د ساحوي کارکوونکو له خوا په بې وزلو ټولنو کې نږدې ۵۰۰ کسانو کی ترسره شوې. د دې په خاطر چې د نموني چوکاټونه جوړ کړو، ساحوې کارکوونکو د حکومتي چارواکو، بیلا بیلو محلي شوراګانو د غړیو (د ټولنې پرمختیایي شوراګانو، ولسوالیو شوراګانو او داسې نور) د ټولنې د مخورو او مذهبي مشرانو سره د غریبو ټولنو د پیژندلو/ څرګندولو په چارو کې سلا مشورې ترسره کړې دي. د نمونو د چوکاټونو په دننه کې د انتخاب شویو کسانو سره مرکی تر سره شوی دي. پوښتنی داسی تیاری شوی وی څو معلومه کړی چی ایا انفرادي کسان او کورني خوړو ته مناسب لاس رسي لري او که نه، او بیا د لاس رسي په وړاندې څه ډول خنډونه شته.

د کابل په کچه او ساحو کې د بې وزلو ټولنو د اړتیاوو، د فقر د لاملونو او حل لارو په حواله د ځایي کارپوهانو (افغان چارواکو او نادولتی چارواکو) د لرلیدونو د معلومولو پخاطر د معلوماتو د راغونډولو ۱۰۰ کلیدي مرکې هم ترسره شوي دي، او همدارنګه د موجوده پالیسیو او پروسو په هکله لا زیات معلومات تر لاسه شوي دي. په کلیدي اطلاع ورکوونکو کې یو زیات شمیر دولتی چارواکي، د ټولنو مشران، سیاستوال او په بیلا بیلو کچو کې د خلکو استازي او د پارلمان او ولایتي شوراګانو غړي شامل دي. دغه مرکې په انفرادي یا ګروپي ډول ترسره شوي دي. زموږ د لومړنیو څیړنو د پایلو د کنترول د یوه میتود په حیث، دغه موضوع ګانې د ملي او نړیوالو کارپوهانو، پالیسي جوړونکو، اکاډمیسینانو، تمویل کوونکو نمایندګیو او په هیواد کې د نورو کلیدی شریکبانو سره ترسره شوې دي. له دې پرته، نورې سرچینې لکه د ډله ییزو رسنیو د کارپوهانو څخه مرسته تر لاسه شوې ده.

د محدود شوو پوښتنو او ازادو پوښتنو د کارولو له لارې، موږ د خلکو څخه د ولایتي چارواکو او مرکزي حکومت په هکله د هغوي د درک په اړوند خاصي پوښتنې مطرح کړې. دغه کار د پام وړ پوهې او بصیرت ته لار هواره کړه چې ملاتړ یې د لنډو کیسو، نکلونو، بیلګو او استدلال پواسطه شوی دي.

د رسمي خپرو شویو شمیرو او د هغو د عددي اطلاعاتو او اټکلونو ترمنځ چې د مرکه شویو کسانو څخه تر لاسه شوي، زیات واټن موجود و. د رسمي سرچینو لپاره، د احصایي د مرکزي دفتر، د خطر او زیانمننی ملی ارزونې، عامې روغتیا د وزارت، د پوهنې وزارت، د ملګرو ملتونو د نمایندګیو او په هیواد کې د ملي او نړیوالو انجوګانو د معلوماتو څخه راخستل شوې دي. د اطلاعاتو په لاس رسي کې د پام وړ محدودیتونو په جمله کې امنیتي ملاحظات او د ښځو مرکه ورکوونکو په برخه کې کم لاس رسي راځي. دا معلومات پدې مانا دی چې لاسته راوړنې په بشپړه توګه پراخې او شاملونکې نه دي.

## دوهمه ضمیمه: په پرمختیا کې بشري حقونه د یوې هر اړخیزه مسالې په څېر

بشري حقونه هغه حقونه دي چې د وقار او ډاډ څخه ډک ژوند کولو لپاره اړین دي، چې مدني، کلتوري، اقتصادي، سیاسي او ټولنیز حقونه په کې راځي. ټول کسان باید د دغو حقونو څخه پرته له توپیره په مساوي ډول برخمن وي. د پرمختیا په هکله د بشري حقونو پر بنسټ ولاړ روش د غوښتونکو پایلو د تر لاسه کولو لپاره اهمیت لري. د بشري حقونو پر بنسټ ولاړ روش د نا برابرۍ او توپیر په ستونزه چې د فقیرو او په حاشیه کې پاتې خلکو او هغه خلکو چې له تبعیض څخه ځوریږي د پرمختګ مانع ګرځي، تأکید کوي. د بشري حقونو پر بنسټ د روش مهم او ځرګند عنصرونه په لاندې ډول دي:

- **ګډون:** خلک باید د پرمختیا په اړوند، د پلانولو، طرحې، نظارت او ارزونې په چارو کې په پریکړو کې ګډون وکړي.
- **حساب ورکوونه:** عامه چارواکي باید خپلې دندې ترسره کړي او هغو کسانو ته مسول وي کومو ته چې دوي خدمتونه وړاندې کوي. په دې کې خلکو او پارلمان ته د حکومتي حساب ورکونې له لارې د مرستو د موثریت د لوړولو چارې شاملې دي او همدارنګه بیا دا لړۍ نړیوالو شریکانو لکه تمویل کونکو ته غځیږي.
- **د توپیر په وړاندې زیانمنیدونکو او ګوښه شویو ډلو ته پاملرنه او عدم تبعیض:** د هر ډول تبعیض پر اساس لکه نژاد، رنګ، جنسیت، ژبه، مذهب، سیاسي او داسې نورې نظریې، ملي یا ټولنیز اصل، ملکیت، زیږون یا داسې نور حالات نشي کولای د بشري حقونو څخه د برخمن کیدو په لار کې خنډ وګرځي. د بشري حقونو پر بنسټ د روش لاندې زیانمنیدونکی او ګوښه شوي ډلې باید د لومړیتوب له مخې وپیژندل شي. همداسې په ورته ډول باید پراختیایي اطلاعات غیر متراکم شي څو ډاډ حاصل شي چې په ټولنه کې څوک د کومو حقونو څخه برخمن دي، له دې لارې کولای شو د زیانمنیدونکو او منزوي ډلو لپاره ښه مداخلتي پروګرامونه طرح کړو.
- **روښوالی:** خلک باید د پریکړې د نیولو د پروسې او همدارنګه د هغو مسوولو کسانو په هکله لازمو معلوماتو ته لاس رسي ولري.
- **پیاوړې کول:** خلک باید د خپل ژوند د بدلون په هکله صلاحیت، پوهې، ظرفیتونو او وړتیاوو ته لازم لاس رسي ولري.

### د بشري حقونو اړونده غیر متراکم کلیدي اطلاعات

د دې پخاطر چې ولیدل شي کومې ډلې یا انفرادي کسان د هغوي د حقونو څخه برخمن نه دي، د بشري حقونو تحلیل د وګړو د سرشمیرنې اصلي ځانګړنو ته اړتیا لري. د بشري حقونو پر بنسټ د ولاړ روش له مخې دغې پوښتنې ته د ځواب لپاره باید د جنسیت، عمر (زاړه او ماشومان) او وګړو د اصلي ډلې له لارې باید لړ تر لړه اطلاعات غیر متراکم شي. په افغانستان کې نورې ډلې کومې چې د تبعیض په وړاندې زیانمنیدونکي دي یا هغه کسان چې د وړاندې څخه محروم شوي دي، په هغو کې بې ځمکې کروندګر، کلیوال کارګر، کلیوال بې روزګاره کسان، ښاري بې روزګاره کسان، ښاري نیستمن کسان، بې ځایه شوي داخلي کسان، راستنیدونکي، معیوبین او کوچیان شامل دي. د دغو ډلو په دننه کې د نارینه وو او ښځینه وو د وضعیت د هر ډول توپیر په هکله باید راپور درج شي.

---

[1] د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزو چارو ریاست، د بې وزلۍ په هکله بیا کتنه، د نړۍ د ټولنیز وضعیت په هکله راپور، ۲۰۱۰ ، نیویارک، ۲۰۰۹

[2] د افغانستان ملي پرمختیایي ستراتیژي31 ,(ANDS) 2008-2013

[3] پورته مأخذ، د افغانستان لپاره د مرستو همغږي کوونکی اداري بورډ ته هم مراجعه وکړئ، د افغانستان د ازمایښتي ګډون ارزونه، مارچ، ۲۰۰۸

[4] د خطر او زیانمنتوب د ارزونې ملي اداره، ۰۸-۲۰۰۷، او نړیوال خوراکي پروګرام. په افغانستان کې په تاریخي توګه بې وزلۍ د غذا د نیستۍ د کچې په حواله تعقیبیږي. د دغه میتود لاندې، د بې وزلۍ کچه د مصرف او عایداتو د کچې د محاسبې له لارې تعیین کیږي، تمه کیږي چې کورني د تغذیې اصلي اړیتاووې تر لاسه کړي. د اصلي اړتیاوو لګښت د بیلګې په توګه د افغانستان په ملي پرمختیایي ستراتیژۍ کې هم کارول شوي. د نیستۍ د کچې د اصلي اړتیاوو لګښت د سړي په سر د لګښت کچه وړاندې کوي په کومو باندې چې د کورنۍ غړي د اصلو اړتیاوو د تر لاسه کولو کومې چې د خوراکي او نا خوراکي توکو څخه جوړه شوي، تمه کولای شي.

[5] د افغانستان د عامې روغتیا وزارت، http://www.moph.gov.af/en/news.php?id=55

[6] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، د عدالت لپاره غږ: په افغانستان کې د بشري حقونو د تیرو سرغړونو په هکله سلا مشورې، ۲۰۰۵

[7] د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر د دفتر وړاندیز شوي بدلونونه چې موخه یې د بشري حقونو پر بنسټ د لرلیدونو د یو ځای کولو دنده دی، ځای شوي. د افغانستان د تړون لیک نهایي بڼه، د اقتصادي او ټولنیزې پراختیا لاندې داسې بیانوي: "د افغانستان حکومت د نړیوالې ټولنې په ملاتړ د لوږې، بې وزلۍ او بې روزګارۍ د راکمولو په موخه د اقتصادي پایداري ودې لوړ ارقام تعقیب کړي."

[8] د افغانستان د مالیې وزارت- ۱۳۸۸ د تمویل کوونکو مالي بیا کتنه، نومبر، ۲۰۰۹، ۹. هامیشن نیکسن، د افغانستان د څېړنو او تحلیل واحد، د مطبوعاتي اسنادو مجموعه، د حکومت لپاره د مرستو برابرول؛ په افغانستان کې د مرستو او حکومت جوړولو تناقض، اپریل، ۲۰۰۷، ۴

[9] د افغانستان د مالیې وزارت، همدا ځای، ۳

[10] ماټ والډین، اکبر موسسې له خوا نشر شوي، سقوط، په افغانستان کې د مرستو موثریت، مارچ، ۲۰۰۸، ۷

[11] د اقتصادي او ټولنیزو حقونو مرکز، په افغانستان کې بشري حقونه او بیا رغونه، مۍ میاشت، ۲۰۰۲، ۲۷.

[12] د افغانستان د ۲۰۰۹ کال د بشري پرمختیا د شاخصونو اهمیت د ۱۷۸ هیوادونو له جملې څخه ۱۷۷ د بشري پرمختیا د ټیټې کچې هیوادونو له جملې څخه شمیرل کیږي چې دا ارقام د ۲۰۰۷ په پرتله ډیر خراب حالت لري.

[13] این آر وي ای، ۲۰۰۷- ۲۰۰۸، آی ډي، څلورم یادابښت. دغه راپور د افغانستان د مرکزي احصاییې د دفتر لخوا خپاره شوي کوم چې د افغان حکومت له خوا په رسمیت پیژندل شوي، کاروي، د یونیفپا له خوا د وګړو شمیر ۲۸ میلیونه اټکل شوې چې دا ارقام دافغانستان په ملي پرمختیایي ستراتیژي کې هم کارول شوي دي.

[14] نړیوال خوراکي پورګرام، ۲۰۰۹.

[15] این آر وي ای، ۲۰۰۷- ۲۰۰۸، آی ډي، څلورم یادابښت، ۸۲ پاڼه .

[16] د ماشومانو د حقونو په اړه د میثاق کمیټې ته د افغانستان د اسلامی جمهوریت لومړنی راپور، ۲۰۰۹.

[17] اکسفام انټرنیشل، د خطرونو په اړه بیا فکر کول: ولې مړیني او ویراني د طبیعت عیب نه بلکه د انساني پاتې کیدو لامل شمیرل کیږي، ۲۰۰۸، ۲۰۰۹، ۲۰۱۰. د ۱۹۹۰ لسیزیزې د وچکالۍ اغیزې لا هم په غذایي مصونیت او بې وزلۍ خپلې اغیزې پر ځای پرې ایښي، د کورنیو نږدې ۴۰ ٪ ویلې چې د یوه چاره یې میکانیزم په څیر هغوي د خپل غذایي مصرف کچه راټیټه کړې.

[18] د هغو کسانو لپاره چې په نیستۍ کې ژوند کوي د هغوي لپاره د ټولنیزې ساتنې هیڅ ډول رسمي فعال سیسټم موجود نه دی، د معیوبینو او د شهیدانو د کورنیو لپاره محدود تقاعد موجود دی.

[19] نړیوال بانک، د بې وزلو وګړو غږ، ۲۰۰۰

[20] ساحوي څیړنه، ۲۰۰۹

[21] همدا ځای.

[22] همدا ځای

[23] مارټین وان، بیچ لرټ، د افغانستان د څیړنې او تحلیل واحد، د لوړ رتبه ولایتي ټاکنو په اړه د انضباط او تشخیص د پالیسیو ترمنځ د مطبوعاتي اسنادو ټولګه، مۍ میاشت، ۲۰۰۹، ۷

[24] د بیلګې په توګه د افغانستان د بشري پرمختیا راپور، د عصري کیدلو او رسم او رواج، قانون د حاکمیت او د عدالت لپاره د لټون راپورونه ته مراجعه وکړئ.

[25] ساحوي څیړنه، ۲۰۰۹

[26] نړیوال بانک، د یوه اغیزمن حکومت جوړول- په افغانستان کې د عامه اداري اصلاحاتو لپاره لومړیتوبونه، جون، ۲۰۰۸.

[27] د ملګرو ملتونو د نشه یی توکو او جرمونو دفتر، په افغانستان کې اداري فساد: روښت لکه څنګه چې د قربانیانو له خوا درج شوي، جنوری، ۲۰۱۰، (څرګنده شوې چې د څواب کوونکو له خوا ویل شوي چې فساد د ډله ییزه رسنیو له خوا په کمه کچه تر پوښښ لاندې نیول کیږي، او د هیواد په جنوب کې نږدې ۲۱۳ برخه هیڅ وخت تر پوښښ لاندې نه ده راغلې).

[28] د خبریالانو د ګواښ، وهلو، توقیف، ټپي کیدو، وژنو د قضیو په هکله دنۍ د ډله ییزه رسنیو د ډلې له خوا د معلوماتو وړاندې کول، ۲۰۰۹.

[29] یوناما، د سیاسي حقونو ګډ نظارت، د ۲۰۰۹ د ولسمشرۍ او ولایتي شوراګانو د ټولټاکنو راپورونه، http://unama.unmissions.org

[30] ساحوي څیړنه، ۲۰۰۹

[31] همدا ځای، د بیلګې په توګه د ننګرهار ولایت د شیرزادو ولسوالۍ کروندګر د یوه سړک، اوبو لګونې د کانال او یوه کلنیک د جوړولو په بدل کې د تریاکو د کښتونو د اړولو مسالې ته غاړه کیښوده. د ۱۰۰۰ څخه زیاتو کروندګرو خپل کښتونه له منځه یوړل خو یو کال وروسته،د هغوي سره ترسره شوې ژمنې هیڅ پر ځای نه شوي، خو له بلې خوا بیا د والی له خوا ځآیي مشرانو ته ۱۰۰۰ ډالر ورکړل شوی دي.

[32] د سره صلیب نړیواله کمیټه

[33] د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما راپورونو ته مراجعه وکړئ. http://unama.unmissions.org

[34] ساحوي څیړنه، ۲۰۰۹

[35] همدا ځای

[36] د بشري حقونو د څېړنې او دفاع کنسورټیم، خبري کول: د بشري حقونو او مسوولیتونو په اړه د افغانانو نظریې، ۲۰۰۳، د اقتصادي او ټولنیزو حقونو مرکز، په افغانستان کې بشري حقونه او بیا رغونه، ۲۰۰۲.

[37] همدا ځای

[38] د بشري حقونو د څېړنې او دفاع کنسورټیم، خبري کول: د بشري حقونو او مسوولیتونو په اړه د افغانانو نظریې، ۲۰۰۳، د اقتصادي او ټولنیزو حقونو مرکز، په افغانستان کې بشري حقونه او بیا رغونه، ۲۰۰۲.

[39] اکسفام، د جګړې زیان، د افغانانو شخړې تجربې، ۱۹۷۸- ۲۰۰۹، نومبر ۲۰۰۹

[40] ساحوي څیړنه، ۲۰۰۹

[41] همدا ځای

[42] ساټ والډمن، آی ډی، ۱۰ یادابښت

[43] همدا ځای، د افغانستان د مالیې وزارت ته مراجعه وکړئ، په افغانستان کې د وزارتونو د پولې اړیکي او ولاتیي لګښتونه، ۲۰۰۸، اګست، او د پارلمان لپاره د سي آر سي رابور: د عراق او افغانتسان لګښتونه، او د ۹/۱۱ راهیسې د ترهګرۍ د عملیاتو په اړه نور بنړیوالې جګړې، تازه معلومات، ۲۰۰۸ کال، فبروری، (په افغانستان کې د پرمختیایي لګښتونو ورته اټکلونه، په ورځ کې د پوځي لګښتونو په اړه ۱۰۰ میلیونه ډالر او هره ورځ د

پرمختیا په اړه ۷ میلیونه ډالر) همدارنګه د سنسل شورا ته مراجعه وکړئ:
*www.icosgroup.net/documents/taliban_politics_policy_paper.pdf*

[44] د مالیې وزارت، آی ډی، ۸ یادابښت، ۳ (دا په ۲۰۰۸، ۳ کې د اکبر موسسې له خوا د راپور شوی مطلب په هکله نږدې ۴۰ ٪ د پام وړ لوړال په ډاګه کوي)

[45] د نړیوالې پرمختیای ریاست، د هیواد د پروګرام تحلیل: افغانستان مۍ، ۲۰۰۹

[46] ساحوي څېړنه، ۲۰۰۹، په بدخشان کې د کار په بدل کې د خوړو پورګرام لاندې د ۲۵ ورځو لپاره ۱۳۰۰ کسانو ته د ورځې ۲۵۰ ان تادیه شوي دي)

[47] نړیوال بانک، آی دي، ۲۵ یادابښت

[48] ساحوي څېړنه، ۲۰۰۹

[49] اناهیتا موجمدار، افغانستان، د مرستو محدود فعالتیونه، زړونو او فکرونو ته ګوزار، په ایراشای څېړنه کې، اپریل، ۳۰/ ۲۰۰۹.

[50] همدا ځای. انګریډ مک ډونالډ، د سیمه ییزې ساتنې مدافع مشارو، د ناروی د کډوالو شورا

[51] د متحده ایالاتو د پوځ لاسي کتاب، د یوه حربه یې سیستم په حیث د پیسو په اړه د قومندان لارښوونه، د یغیانو د له منځه وړوړلو په موخه د سیمې د اوسیدونکو د زړونو او ذهنونو ګټل. اپریل، ۲۰۰۹، انډیو وایلډر په کتاب کې ذکر شوی چې پیسې د امیریکا لپاره خواخوږي نشي ګټلای، خارجي پالیسی، ډسمبر، ۲۰۰۹ (دزړونو او ذهنونود ګټولو په پرتله د بیا رغونې مرستو اهمیت بایلي... عمومي شکایتونه هم په دې کې شامل دي: ډېر کم او یا هم هیڅ نه دي تر لاسه شوي (د یو شمیر وروستیو تطبیق شویو پروژو په هکله د پام وړ شواهدو سربیره) دا درک چې نورو ټولنو زیاتې مرستې تر لاسه کړي، د کا رکمزوری کیفیت، نا سمې پروژې او داسې نور شیان. د مرستو په حواله یوازنې نیوکه دا ده چې دا د مخ پر زیاتیدونکې فساد لپاره لار هواروي او په دې سره د یو شمیر مثبتو کارونو په وړاندې هم خند پیدا شوی دی).

[52] ماټ والډین،د ناټو د هیوادونو او حکومتونو د غونډې د مشرانو لپاره په افغانستان کې د میشتو ۱۱ انجوګانو له خو مختصر سند ۳- ۴، اپریل، ۲۰۰۹، په شخړه کې ښکېل: په افغانستان کې نړیواله امنیتي ستراتیژي او ملکي کسان، ۵، ۲۰۰۹ (د ولایتي بیا رغونې ټیمونو لپاره موجوده تمویل د روغتیا او معارف د ملي بودجیو څخه اوړي).

[53] همدا ځای ۱۵. د بودجې پارلماني توجیه، د بودجې توصیه، ۲۰۰۹ مالي کال، د جنوبي او مرکز ي اسیا بیا کتنه، ۵۵۶.

[54] ماټ والډین، آی ډی، ۱۰ او ۱۳ یادښتونه

[55] همدا ځای ۱۵. اکسفام په افغانستان کې: پراختیا او د بشرپالنې لومړیتوبونه، ۴، ۲۰۰۸ (د دې یادونه کیږي چې د افغانستان تر ټولو ستر تمویل کوونکې اداري، یعنې د نړیوالې پراختیا لپاره د متحده ایالاتو تنمایندګي د خپ لتمویل نږدې نیمایي برخه ۵ سترو امریکایي قراردادیانو ته اختصاص کړي).

[56] د افغانستان د بشپړتیا څار، افغانتسان، د مرستو د موضوعاتو څخه د هیواد وګړو ته د حسا بورکونې بیا سپارل، ۵، ۲۰۰۸

[57] د افغانستان د مالیې وزارت، د تمویل کوونکو مالیې بیا کتنه، جنوري، ۲۰۰۹، ۹

[58] د امنیت شورا ته په افغانستان کې دملګرو متلونو د عمومي منشي د ځانګړی استازی کای ایډی بیانه، د جنوري ۶، ۲۰۱۰

[59] ساحوي څېړنه، ۲۰۰۹. د خوراک د حق په اړه د ملګرو ملتونو خاص راپور ورکونکې، ښاغلی اولیسویر ډی سوټر، مطبوعاتي بیانیه، د غذایي بحران او د کرنې د بیا جوړښت دعهدې څخه د راوتلو په موخه سیاسي اداري ته ضرورت لیدل کیږي، ۱۸ سپتمبر، ۲۰۰۹. (یادونه کیږي چې د خوار ځواکی د له منځه وړلو لپاره عامه پالیسي ګانې پیاوړي شي او د غذایي تولید په هکله د پخواني او نا امناسبه ټینګار په پرتله متفاوت دي). د تهیه کولو او رانیولو ننګونې د یو شمیر نورو فکتورونو له امله ترکیب شوی او د دې ډول ننګونو یوه بیلګه مالیاتي جوړښت دی. په اسو حا لکې د سګریټو د ۱۰ ٪ مالیاتو په پرتله په پوډی شیدو چې اصلي اقدام دي ۱۷ ٪ مالیات وضعه شوي چې بیا وروسته مصرف کوونکو ته رسیږي. ځکه نو دا مالیات پهنستمنو کسانو منفې اغیزې اچوي. ساحوي څېړنې دا جوته کړه چې مساله په مارکیټونو کې د غذایي بیلا بیلو توکو موجودیت نه دی بلکه د هغو سروي شویو کسانو ستونزه او مساله ده کوم چې د غذایي توکو ته د لاس رسي امکانات نه لری. خا جان الکوزی، د افغانستان د سوداګری او صنعت د اطاقونومشر (د ۲۰۰۹ ډسمر په میاشت کې په کابل کې مدني ټولنې ته وینا)

[60] د پراختیا ورکشاپونو لپاره د دایکندي د بشري حقونو پر بنسټ روش، د ولسوالی د کچې چارواکي، دایکندي، ۲۰۰۹

[61] د افغانستان ټرون لیک، دریمه ضمیمه

[62] د همغږي او نظارت ګډ پلاوي، کلنی راپور، ۲۰۰۷

[63] د نړیوال بحران ډله، افغانستان: د نړیوال تحلیل لپاره اړتیا، د فبروري ۶- ۱۴ ۲۰۰۸

[64] د ښاغلی کای ایډی بیانیه، ای ډی، ۵۷ یادابښت، افغانستان ته هم مراجعه وکړئ: دلندن کنفرانس، جنوري، ۲۸، ۲۰۱۰

[65] ماټ والډین: آی ډی، ۱۰ یادابښت، ۴، ۱۴ او ۱۵ ارقام. د حکومت په متمرکز شویو پریکړو نیوکې شوي ځکه چې دا ډول پریکړې د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو پرته پروژې تعینویاو د پلې کولو په چارو کې ستونزې رامنځ ته کوي. د پراخ فساد په نظر کې نیولو سره او د صلاحیت سپارل هم د اندیښنې وړ خبره ده.

[66] ساحوي څېړنه، ۲۰۰۹

[67] د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون، په افغانستان کې د اقتصادي او ټولنیو حقونو دوضیعت په هکله څلورم راپور، ډسمبر، ۲۰۰۹، د مرستو د ویش په هکله د پام وړ جغرافیایي اختلاف موجود دی. دا حالت د یو شمیر فکتورونو له امله رامنځ ته شوی دی خو دا په دې مانا نه دی چې مرستې د پوځي او سیاس یموخو د لاس ته راوړلو لپاره کارول کیږي. د نیمروز، هلمند، زابل، کندهار او ارزګان د نا امنو ولایتونو لپاره د سړی پر سر ۲۰۰ ډالر اختصاص شوي دي، یو شمیر زیات ولایتونه بیا د دې اختصاص څخه زیات دي. یو شمیر زیات ولایتونه بیا د دې اختصاص تر نیمایي کمه برخه تر لاهس کوي او ځینې نور لکه سرپل او تخار د دې اختصاص ۱/۳ برخه تر لاسه کوي، ماټ والډین، آی ډی، ۲، ۳ او ۱۰ یادابښت.

E/CN.4/Sub.2/2004/44, 56 para.. [68]

AIHRC, *id.* note 67. NRVA 2007-08, *id.* note 4. [69]

http://www.unicef.org/infobycountry/afghanistan_50072.html. [70]

NRVA 2007-2008, *id.* note 4, 25. [71]

[72] UNAMA/OHCHR, چوپتیا خشونت ده: په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د خشونت پای ته ورسوي، ۸ جولای، ۲۰۰۹ .

[73] ساحوي څیړونه، ۲۰۰۹. (دا جوته شوه چې د UNAMA/OHCHR له خوا مرکه شویو ښځو د اصلي خوراکي توکو لکه غنمو د قیمت په هکله او دا چې په یوه خاص وخت کې یوه کورنۍ څومره غنم مصرفوي هیڅ ډول معلومات نه درلودل).

[74] NRVA 2007-2008, *id.* note 4.

[75] د افغانستان ملي پرمختيايي ستراتيژي، آی ډي، ۲، او ۱۷ يادابښت

[76] د افغانستان د بشپړتيا څار، آی دی، ۲۶ او ۵۶ يادداښت

[77] د ملي پيوستون پروګرام د يادوني وړ يوه استثنا ده.

[78] امي فرومين، د نړيوالاو او ستراتيژيکو مطالعاتو مرکز، د برياليتوب لپاره USAID تجهيزوي: يو ساحوي لرليد، جون، ۲۰۰۹، ۲۳

[79] ساحوي څېړنه، ۲۰۰۹

[80] ماټ والډين، آی ډي، ۱۰ او ۱۳ يادابښت

[81] / بيډ. ۱۳ او نړيواله پاملرنه، د پوهې لپاره ليوالتيا، په افغانستان کې په معارف بريدونه، د موثره کاهش لپاره خطرونه او تدبيرونه، سپتمر، ۲۰۰۹، ۵۲

[82] ساحوي څېړنه، ۲۰۰۹

[83] آي ډی. ۱۶ يادابښت، ۱۵۱ او ۳۴۷ پراګراف

[84] NRVA, 2007-2008, *id.* note 4.

[85] همدا ځای

[86] ساحوي څېړنه

[87] دا د معلوليت د نړيوال سازمان د يوې سروې پر بنسټ ولاړ دی، پارول بخشي، جين فرانکوس تراني، سی سی لی رولانډ د معيوبيت په اړه سروې بشپړه کړې: يوه پراخه مجموعه، په افغانستان کې د معيوبيت په اړه ملي سروې، ۲۰۰۵، د نړيوال معلوليت د سازمان له خوا په ۲۰۰۶ کې نشر شوی. http://www.handicap-international.fr/bibliographie-handicap/7Donnees/RapportEtude/understandingChallengeAhead.pdf

[88] NRVA 2007-08, *id.* note 4, 88.

[89] ساحوي څېړنه، ۲۰۰۹

[90] زريزې پرمختيايي موخې، د افغانستان د اسلامي جمهوريت د هيواد د کچې راپور، ۲۰۰۵، ۴۰

[91] ساحوي څېړنه، ۲۰۰۹

[92] نيلا کبير، د جنسيت برابری، د نيستی له منځه وړل او د زريزې پرمختيايي موخې: د ښځو د وړتيا او ګډون هڅونه، ۲۰۰۳، د جنسيت د لرليد له مخې اقتصادي چاره، په دوهمه او دريمه برخه کې د ګيتا سين اقتباس، ۱۹۹۵.